شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریک نشراتی ارگان

بی امیره مرگ د جاهلیت مرگ دی

حضرت ابن عباس(رض) وایی د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: «که څوك له خپل امیر څخه داسې څه ووینی چه دده خوش نه وی، صبر دی وریاندی وکړی، حکه چې څوك یوه لویشت له جماعت څخه جلا کیږی، چی مر شی مرسی یی دجاهلیت(غیر اسلامی) مرگ دی. (متفق علیه)

د امیر اطاعت فرض دی

لوی خدای«جل جلاله» فرمایلی دی: ای هغو کسانو چی ایمان یی راوړی دی (ای مؤمنانو!) د الله (جل جلاله)، او د رسول (صلی الله علیه وسلم) او د خاوندانو د حکم له تاسی (حاکمانو او مشرانو!) اطاعت وکړئ(حکم یی ومنئ) (النساء : ٥٩)

لومړی کال | پنځلسمه گڼه | دوشنبه د ١٣٧٥ هـ ش کال د وری(حمل) د میاشتی (٢٠) | د ١٩٩٦ میلادی کال د اپریل(٨) | د ١٤١٦ق کال ذی القعدة (٢٠)

په کندهار کی د هیواد د علماء کرامو تاریخی غونډه پای ته ورسیده

مجاهد ملامحمد عمر آخند د امیر المؤمنین په توگه وټاکل شو

ربانی چی روسان د افغانستان د تباهی مسؤل نه گڼی دا د هیواد د اتلس لکه شهیدانو له وینو سره خیانت دی (مولوی محمد صادق)

افغانانو ددی لپاره جهاد کړی دی چی یو سوچه اسلامی نظام په جوړیږی (مولوی گل محمد غزنی وال)

د روسانو له ماتی وروسته، مسعود هغه وعده پرځای کړه چی څو کاله پخوا یی له روسانو سره کړې وه (ملا عباس آخند)

در اسلام موضوع زبان مطرح نیست بلکه تنها و تنها مسلمانی است که مسلمانان را با هم برادر میسازد (مولوی عبدالعزیز تخاری)

ما ربانی او مسعود ته په یوه لیکه کی لیکلی دی چی باید قدرت پریږدی او نوری د ملت وینی بی ځایه تویی نه کړی. (د تره خیلو مولوی صاحب)

د ربانی له اداری سره د طالبانو د اسلامی تحریك پر خلاف ائتلاف او اتحاد کول د الله(ج) غصی او غضب ته دعوت ورکول دی. (د اتحاد اسلامی د اجرائیه شوری مولوی محمد کرم)

ربانی د څو ورځو اقتدار لپاره یو ځل بیا غواړی چی د افغانانو گټلی نوم تر خاورو لاندی کړی. (مولوی جلال الدین شینواری د پیښتون شوری مشر)

د کندهار په تاریخی ښار کی د افغانستان د علماء کرامو تاریخی غونډه چی څه د پاسه بو نیم زر تنه علماؤ پکی گډون کړی ؤ د وری په ۱۰ نیټه پیل او په ۱٤ نیټه د چارشنبی په ورځ پای ته ورسیده. د افغانستان په تاریخ کی دا لومړی تاریخی غونډه ده چی د هیواد دومره زیات شمیر علماء کرام پکی برخه اخلی او د هیواد د مسلمانو په باب فیصله کوی. د شریعت د اونیزی خبریال د غونډی د جریان په باب مفصل رپوټ برابر کړی چی هوږ یی په لنډیز سره دوروپو لوستونکو مطالعی ته وړاندی کوو. د غونډی د لومړی ورځی جریان د شریعت په تیره گڼه کی خپور شوی او دا دی د نورو ورځو د غونډی گزارشات: د غونډی د وړنا والو ... جملی څخه یو هم د طالبانو د عالی شوری غړی محترم مولوی محمد صادق ... طالبانو د اسلامی غورځنگ د ضرورت په اړه په تفصیل سره خبری وکړی. وی وویل علماء کرامو هر وخت د ظلم او باطل په مقابل کی مقابله کړی او ... په هم د افغانستان له پاکی خاوری څخه د ... مولوی. (دریم مخ)

در هرات یك گروه فاسد تخریبکار دستگیر گردید

خبرنگار ما از ولایت هرات خبر میدهد که: در این اواخر یك گروه فاسد تخریب کاران که مشتمل بر ١٦ نفر بودند به رهبری صوفی جبار از طرف مقامات امنیتی ولایت هرات دستگیر گردیدند. که از نزد آنها یك مقدار زیاد مهمات و چند عراده موتر هم بدست آمد، راپور می افزاید که آن گروه فاسد در صدد بودند تا وضع امنیتی آنجا را اخلال و تشویش ایجاد نمایند که عندالموقع دستگیر و به مراجع مربوط غرض تحقیق تحویل گردیدند.

مولوی وکیل احمد له بی بی سی سره په مرکه کی،

د کابل د اداری نظامی مرکزونه به دطالبانو او حزب وحدت په گډ نظامی عمل له منځه ورل کیږی

«مولوی وکیل احمد»

موږ پخپل کار کی بالکل آزاد او د خپل اختیار خاوندان یو

(باغلی سید هادی)

مولوی وکیل احمد وویل: په میدان ښار کی د حزب وحدت له حینو غړیو سره د طالبانو یو شمیر قوماندانانو لیدلی او خبری یی ورسره کړی دی، په دی خبرو کی د طالبانو له خوا ملاخیر الله آخند، قوماندان غلام محمد او مولوی سید امین (٤ مخ)

د کابل د تش په نامه اداری په وسلو او مهماتو بار یوه الوتکه لوليه کړای شوه

له هرات څخه د شریعت د اونیزی خبریال خبر راکوی د کابل د تش په نامه اداری یوه پوځی الوتکه چی په وسلو او مهماتو بار وه او د غوسټل په د غور په ولایت کی خپلو یو شمیر کسانو ته اکمالات ورسوی د طالبانو د اسلامی غورځنگ د هوایی قواوو له خوا تر اور لاندی ونیول شوه. خبریال زیاتوی الوتکه په هوا کی اور واخیست، عمله او مهمات پکی تول له منځه ولاړل. زموږ خبریال داهم زیاتوی چی د الوتکی پیژندگلوی څکه سمه د نه کرای شوه چی په هوا کی وسوځیده، خو غالب گومان دادی چی دغه الوتکه به له ایران څخه راغلی وی او غوسټل به یی چی لکه د همیش په شان د کابل د تش په نامه اداری د په پسو دروله لپاره خپلی ناوړه هلی ځلی جاری وساتی.

دپکتیا زړورو او دیندارو خلکو د کندهار له تاریخی غونډی سره خپل غوښ ملاتړ څرگند کړ

د شریعت اونیزی خبریال د پکتیا ولایت له مرکز گردیز څخه خبر راکوی چی د وری په ١٧ نیټه د هغه ولایت په مرکز گردیز کی د پکتیا د علماؤ قومی مشرانو، سپین ږیرو، روحانیونو، مجاهدینو او عامو خلکو په گډون یوه پرلیته غونډه جوړه شوه.

غونډه د عظیم الشان قرآن د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل او وریسی د پکتیا ولایت د اطلاعاتو او کلتور رئیس مولوی خان آغاز زاهد او د هغه ولایت د ښوونی او روزنی رئیس مولوی محمد آصف (٤مخ)

دکندهار د تاریخی غونډی پریکړه لیك

د افغانستان د مسئلی د حل او په هیواد کی د یو اسلامی مشرتابه د ټاکلو لپاره د ١٣٧٥ هـ ش کال د وری په لسمه نیټه د شنبی په ورځ د هیواد د ١٥٠٠ تنو دجیدو علماؤ په گډون د کندهار په ښار کی تاریخی غونډه پیل او پنځه ورځی روانه وه.

په دی تاریخی غونډه کی چی یو ځل بیا یی د مسلمانانو او افغانانو د شوری او ... سپی تاریخ را ژوندی کړ. (٤مخ)

د حکمتیار او شورای نظار نږدی والی له امله د نورو جنگونو تشویش

د شریعت اونیزی خبریال د لوگر له ولایت نه خبر راکوی چی د ١٣٧٥ لمریز هجری کال د وری په ٩ نیټه د لوگر ولایت په مرکز پل علم کی یوه درنه غونډه جوړه شوی وه، چی هغی ته د هغه ولایت له مرکز او ولسوالیو نه په گڼ شمیر علماء، سپین ږیری او نور خلك راغلی وو.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پرانستل شوه. (٤مخ)

در لوگر ٤٣٥ کیلو هیروئین ضبط گردید

خبرنگار «شریعت» از ولایت لوگر خبر میدهد که: بتاریخ ١٣ حمل سال جاری ٤٣٥ کیلو هیروئین در مرکز ولایت لوگر که به خارج انتقال میگردید، باعامل آن«محمد کریم» نام ازطرف مقامات قومندانی امنیه، آن ولایت ضبط گردید وقضیه تحت تحقیق میباشد.

سرمقاله

د دینی عالمانو تاریخی فیصله شرعی، په ځای او مثبت گام دی

د ١٣٧٥ لمریز هجری کال د وری په څوارلسمه نیټه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکی خرقی په ټاټوبی، کندهار کی د افغانستان د علماء کرامو لویی، بی سابقی او تاریخی غونډی له ډیرو ورځو بحثونو، تقریرونو او شرعی دلائلو څیړلو وروسته د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك محترم مشر مجاهد ملا محمد عمر اخوند د افغانستان د مجاهد او مؤمن ولس د مشر(امیرالمؤمنین) په حیث غوره او په یوه خوله یی شرعی بیعت ورسره وکړ.

په داسی حال کی چی د حاضرینو له سترگونه د دغی خوشحالی او ... او غمونو دخواشینی ... توپیدلی او محترم مشر د بیعت اخستو لپاره د ... ١٥- نه زیاتو د افغانستان کره او متبحرو عالمانو په منځ کی نژدی دوه ساعته ولاړ ؤ له علماء کرامو او نورو حاضرینو څخه یی بیعت واخیست. هلته چی د بیعت په وخت کی د افغانستان په رسمی اومحلی ژبو- دری، پښتو، بلوچی، ازبکی او نورو ژبو- د مبارکی چیغی وهلی کیدلی زړه راکښونکی صحنه وه؛ د جهاد په دوران کی به چی د تنظیمونو له مشرانو سره د جهاد بیعتونه کیدل هلته به هم د زړه نرمی او ژړا صحنه جوړه شوه مگر دغی صحنی له هغو نه ډیر توپیرونه لرل؛

یو خو داچی له دغه محترم مشر سره بیعت دافغانستان د مشر (امیرالمؤمنین) په حیث ؤ نه یوازی د تنظیم د مشر په صفت.

بل دا چی د افغانستان په زمکه ؤ، نه د پیښور په جومات یا دفتر کی.

بل دا چی د افغانستان دمسلمانانو بیعت ورکړ شوی مشر او امیر موجود نه ؤ نو شرعی امیرته له بیعت ورکولو پرته د مسلمان ژوند کول تر هغه وعید لاندی راتلل دی چی وایی: له شرعی بیعت نه پرته چی څوك مړ کیږی څو سه بی که یهودی مړ کیږی او که نصرانی مړ کیږی! پاته شوه د ربانی خبره، هغه خوارکی د نه کفایت او ناتوانی له امله او د امامت د گټو، غرضونو او هدفونو نه حاصلیدلو له امله له پیله معزول شوی دی اوس یی ایسته کول ضرور دی، په دغه هکله علماء کرامو ډیر پاخه شرعی دلایل وړاندی کړی دی. که څه هم د ربانی او دده د انډیوالانو دریځ او عکس العمل به د عالمانو کرامو ددغی مهمی شرعی او ملی فیصلی په وړاندی طبعاً منفی وی او په سل رنگه حیلو او بهانو به زیار باسی چی ځان ورته تیر کړی خو دغه دریځ به نه ددوی بی شمیره نیمگړتیاوی وړپوره کړای شی او نه به یی په دردو خوری بلکی نور پیغور به هم وگټی ځکه چی دغه دریځ به یی له شرعی حکم څخه سرغړونه او د غری وهل وی اوله شریعت سره د غری وهل له اسلام څخه وتل دی.

بل توپیر دا دی چی محترم مشر ملا محمد عمر اخوند د هغو خصوصی او اجتماعی صفتونو خاوند دی چی د مسلمانانو د امیرلپاره ضرور دی، د افغانستان مسلمان ولس اوس پخپله دغه ښیگڼی وینی، ددوی ازادی قوت، د قوماندی صلاحیت، عسکری ځواك، د قصاص او حدودو د تنفیذ جرأت، په لږ وخت کی امنیت ټینگول او سرحدونه ساتل هغه ځانگړتیاوی دی چی شرعاً د مسلمانانو امیر ته ضرور دی او حساب وریاندی کیږی.

د افغانستان عالمانو کرامو -ایدهم الله تعالی- د خپل دغسی مسؤلیت درك لا پخوا کړی ؤو مگر د عملی اقدام وخت یی اوس مناسب وباله او دغه تاریخی او شرعی فیصله یی وکړه؛

دا خبره باید په پام کی ولرو چی دغه فیصله یی بیړنه او په پټو سترگو نه ده کړی بلکی د علم او تجربو په رڼا کی ده. د داخلی او خارجی اوضاعو د مکمل تحلیل او هر اړخیزی څیړنی په رڼا کی یی دغه مثبت گام اخستی دی.

په تیره بیا د افغانستان د جهادی مشرانو د انگیزو، دریځونو، شخصی غوښتنو، پیرزوینو او ټولو اړخونو زیاتی ازموینی په نتیجه کی یی وکړه. (٢مخ)

دکندهار په یو سل پنځه بستریز روغتون کی د قلع نارو غانو د تداوی ځانگه پرانستل شوه

له کندهار څخه د شریعت د اونیزی خبریال خبر راکوی چی د وری په ١٥ نیټه د چهارشنبی په ورځ د خاصو مراسمو په ترځ کی د هغه ولایت د یوسل پنځه بستریز روغتون په ودانی کی د هندوکش موسسی له خوا د قلع د نارو غانو او معیوبینو د تداوی لپاره یوه ځانگه پرانستل شوه. (٤ مخ)

د لوگر ولایت دیندارو خلکو د کندهار دتاریخی غونډی هرکلی وکړ

د شریعت د اونیزی خبریال د لوگر ولایت څخه رپوټ راکوی چی په کندهار کی د هیواد د علماؤ د تاریخی غونډی د هرکلی په اړه په هغه ولایت کی یوه پرلیته غونډه جوړه شوی وه. په غونډه کی د هغه ولایت زیات شمیر علماؤ، قومی مشرانو، سپین ږیرو، طالبانو، مجاهدینو او عامو خلکو گډون کړی ؤ. (حلورم مخ)

د گریزو ولسوالی فعاله شوه

په هیواد کی د روس او د هغه د غلامانو پرخلاف د مقدس جهاد په اوږدو کی د هیواد زیات دولتی تأسیسات یا له منځه ولاړل او یا یی هم دولتی چاری په ټپه ودریدی چی په دی جمله کی د غوسټ د گریزو د شیخ امیر علاقداری هم شامله وه. د شریعت د اونیزی خبریال (٤ مخ)

د هلمند ولایت په مربوطاتو کی د واکسین د تطبیق مرکزونه پرانستل شول

د هلمند ولایت له مرکز او مربوطاتو څخه د شریعت د اونیزی خبریال خبر راکوی چی د وری په نهمه نیټه د هغه ولایت په سیمه ایز روغتون کی د واکسین یو دایمی مرکز پرانستل شو. د مرکز د پرانستلو په مراسمو کی د جنوب لویدیزی حوزی دعامی روغتیا رئیس ښاغلی داکتر بلوچ، د یونیسف د مؤسسی د روغتیایی څانگی مسئول

داکتر آغاگل دوست او ځینو نورو مهمو کسانو گډون کړی و. (٤ مخ)

په غزنی کی د سیمی د امنیت په باب داد بکاره شو

د ١٣٧٥ کال د وری په پنځلسمه نیټه د غزنی په ولایت کی د هغه ولایت د یو شمیر مسئولینو په گډون پرلیته غونډه وشوه. په غونډه کی د غزنی ولایت د امنیتی چارو مسئول ملا عبدالودود او د وحدت د حزب نماینده حاجی عرفانی وینا وکړی، په دی غونډه کی د ولایت امنیتی چاری وڅیړل شوی او په دی اړه داد څرگند شو. همدا رنگه په غونډه کی د وحدت د حزب نماینده د خپل تنظیم پر غړیو غږ وکړ چی د طالبانو د اسلامی غورځنگ د هرډول گټورو پلانونو او پروگرامونو په تطبیق کی خپلی هیڅ ډول مرستی و نه سپموی.

دکندهار د تاریخی غونډی له پای ته رسیدو وروسته علماء کرام خپلو خپلو سیمو ته وخوځیدل

په کندهار کی د هیواد دعلماء کرامو د تاریخی غونډی په پای ته رسیدو سره د هیواد له گوټ گوټ څخه راغلی علماء کرام خپلو خپلو سیمو ته وخوځیدل د شریعت د اونیزی خبریال د کندهار ولایت له مرکز څخه خبر راکوی چی (٤مخ)

په کندهار کی یوه زیاته اندازه جعلی درمل له منځه یوړل شول

له کندهار څخه د شریعت د اونیزی خبریال خبر راکوی چی د وری په پنځلسمه نیټه د هغه ولایت په گمرك کی یوه زیاته اندازه جعلی درمل له منځه یوړل شول. (٤مخ)

د مسلمانی عقیده

دوهم مخ

په اسلامی نړی کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

دوهم مخ

د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

(دوهم مخ)

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

ص ٣

په کندهار کی دعلماؤ داجماعی پریکړو په اړه امیدونه او اندیښنی

(دریم مخ)

په کندهار کی د دینی عالمانو تاریخی فیصله د شریعت په رڼا کی

(دریم مخ)

ربانی که مسلمان وی خانته باید مرگ وغواړی

(دریم مخ)

په کندهار کی د ماینونو د کمربند د پاکولو پروگرام

د شریعت د اونیزی خبریال له کندهار ولایت څخه خبر راکوی چی په دی وروستیو کی د کندهار په منزل باغ کی اتیا زره متره مربع ساحه له ماینونو څخه پاکه کړای شوه.

خبریال زیاتوی چی اوس ددی سیمی اوسیدونکی کولای شی په پوره ډاډ سره له یوه ځایه بل ځای ته تگ او راتگ وکړی، خپلی ورځنی چاری پر مخ بوزی، او په خپلو کروندو کی پرته له ویری کښت او کارته دوام ورکړی.

د ښاری کمپ د نیازیو په مدرسه کی د قومی مشرانو یوی غونډی د طالبانو له اسلامی غورځنگ سره د غوښی مرستی ژمنه وکړه

د غونډی د برخه والو په تن د شریعت د اونیزی خبریال ته وویل په دی غونډه کی زیات شمیر علماؤ او سپین ږیرو برخه اخیستی وه، د غونډی برخه والو د طالبانو د اسلامی غورځنگ هرکلی وکړ او دغه غورځنگ یی د ملت د نجات وسیله وباله. همدارنگه د غونډی برخه والو ژمنه وکړه چی ددغه (٤مخ)

د پیښور د بورد په جنوبی اړخ کی د مهاجرینو په یوه کمپ کی بیعت واخیستل شو

د کندهار دتاریخی فیصلو د تطبیق په غرض په هیواد کی دننه او دهجرت په کمپونو کی د بیعت ورکولو لړی روانه ده.

د شریعت د اونیزی خبریال د پیښور د ښار له مربوطاتو څخه خبر راکوی چی د تیری جمعی په ورځی د پهلوان سید محمد په کمپ د هغه کمپ علماء، سپین ږیرو، قومی مشرانو او (٤مخ)

شریعت

دامتیاز خاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریک
د تاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی
مسؤول مدیر : الحاج مولوی احمدجان
تیلفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس :په پیښورکښې دطالبانوداسلامی تحریك نمایندگی
دیوی گڼې بیه په هیواد کښې (۳۰۰) افغانۍ
په پاکستان کښې (۳) کلداری

سرمقاله...

ددغی تاریخی فیصلی په هکله به د ځینو منلي ذهنیتونو دریزونه ورل ورل وی مگر دغه په هغه ذهنیتونه وی چی په ځانګړی چاپیریال کی یی روده کړی وی، ځانګړی اهداف او غرضونه لری، دغه به د تقوی او پاکی مسلمانی، د افغانستان د غم ځپلو مسلمانانو، کونډو، یتیمانو، مهاجرینو او مظلوم ولس په غم غمجن ذهنیتونه نه وی، دوی به هم د ربانی په شان زیار باسي چی په مکر او حیله سره دغه د خیر اقدام په صنقلي څېره روغی او یا یی د قشری او طبقاتی عنوانو په یاد یوسی، خو د افغانستان د علماء کرامو فیصله پوره شرعی فیصله ده او دوی شرعاً د ټول افغانستان نمایندگان دی او د اسلامی شریعت له فیصلی نه د تیښتی جرأت یوازی هغه څوك کولی شی چی له اسلام نه د وتلو جرأت هم ولری، دغسی ذهنیتونه به پریږدو چی په خپله تنگه تالی کی نڅا وکړی، چو آن کرمی که در سنگی نهان است ✦ زمین و آسمان او همانست

د علماء کرامو له دغی تاریخی فیصلی او په ځای گام اخستلو نه وروسته به اوس د افغانستان مجاهد او غیرتمن ولس نه رگورږدی څومره ژر په دخپل هدف په څنگ کی ودریږی! په خوا به دوی ټل د یوه مجاهد صالح مشرتابه ارقیادت ارمان کاوه، ټل به یی د افغانستان له کړکیچن حالت څخه واریلا کوله او ټل به یی د تنظیمونو له مشرانو څخه گیلی او مانی کولی! اوس چی ددوی له غوښتنی سره سم یو مجاهد، عالم، خدا ترس، او غسخور قیادت رامنځ ته شو نو دغه د دوی کار دی چی مشروط پسی ودریږی او خپل ارمانونه وریاندی پوره کړی. هغه ارمانونه چی ۱٦-۱۷ لکو شهیدانو د هغو لپاره خپلی وینی توی کړی، ځانونه یی قربان او تازولی یی یتیمان کړل- رحمه الله تعالی علیهم- هغه ارمانونه چی د اسلام مخلصو بچیانو د هغوی د تحقق لپاره ١٤-١٥ کاله جهاد کاوه، له اورو، اوسپنو او باروتو سره یی لوبی کولی، هغه ارمانونه چی په میلیونونو مهاجر افغانان د هغو د ترسره کولو لپاره د پاکستان په دښتو کی د ترەوځی د اورو لمبی زغمی او د ایرانی کین کسو ملتونه په ځان تیروی.

ای د افغانستان یا ترورو او په اسلام مینو مسلمانانو! الله تعالی دی دغه نوی صالح قیادت او مشرتوب درته بختور کړی! تاسی ته ددغه مشرتابه اپماندارو او مجاهدو لښکرو- چی ددینی علومو طالبان، قاریان او د قرآن مجید حافظان دی- د ځان د وینو په بیه امن راوړو، د ظالمو داړه ماړانو او خدا ناترسه پاټکبانو او ترورو وحشي ظالمانو له تیری څخه یی د تاسی سر، مال او ناموس خوندی کړ، تاسي ته یی د قصاص او شرعی حدودو د تطبیق افتخار دریه برخه کړ او تاسو ته یی هر هغه راوړل چی تاسی ورته اړ وئ، غوښتل مو، خو نه مو لرل.

پام کوئ! چی دغه مرکه له لاسه ورنه کړی، پام کوئ چی دفتنه کرو او غرض د خاوندانو په غولولو نور ځانونه و نه غولوئ، پام کوئ چی نور د تنظیمونو د مشرانو په له هرڅه له لاسه ور نه کړئ، ځکه چی هغوی ته یوازی دا چی مقصد ته یی وته رسولی بلکی په دوی کی د جاه او جلال عاشقانو د تاسی څومره وینی وبهولی! څومره یی د تاسی ناموسونه یی پته کړل! څومره یی ستاسی مالونه چور او کورونه وران کړل! څرنگه یی ستاسی د جهاد او لویی فتحی عزت، د جهاد مقدس هدفونه او د شهیدانو کرامو ارمانونه له خاورو سره خاوری کړل؟!

پام کوئ! چی هغوی ته نوره له و نه کړی. راشی په الله تعالی باندی یو ځل بیا توکل وکړئ او له سلو مرکونه یواقدام شه دی، له دغه نیك مشرتابه سره بیعت وکړئ او تر لوماتده لاندی یی د اسلامی نظام او شریعت د تطبیق لپاره او خپلو مسلمانانو ته دعزتمن او آرام ژوند لپاره علی ځلی او سربندلی وکړی. التوفیق من الله تعالی

د مسلمانی عقیده

دیارلسمه برخه

غازی خیل

د فقهی تاریخ او ځلور مذهبونه:

ددغه د دریم دور تویبرونه له نورو دورونو څخه په لاندي توگه دی:

لومړی توپیر دا چی اسلامی امت په دریو ډلو وویشل شو، یوه ډله د خوارجو وه چی د شیخینو رضی الله تعالی عنهما خلافت یی برحق باله او له حضرت عثمان، حضرت علی، حضرت معاویه رضی الله تعالی عنهم څخه یی بیزاری اعلان کړی وه نو ځکه یی د هغوی او هغوی نه د منسوبو خلکو روایت، احتهاد او فتوا ته هیڅ اعتبار او قیمت نه ورکاوه.

بله د شیعه وو ډله وه چی د حضرت علی او ددوی کورنی رضی الله تعالی عنهم او د هغو طرفدارانو ته یی میلان ؤ. له هغوی نه پرته یی د بل هیچا روایت، احتهاد او فتوا ته هیڅ قیمت او اعتبار نه ورکاوه.

دریمه ډله اکثره اسلامی امت اهل سنت والجماعت ؤ چی د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه امامت یی منلی ؤ. هغوی د خوارجو او شیعه وو احتهاد او فتوا ته اعتبار نه ورکاوه؛ دغه دری گونی ویش په فقهی احتهاد او استنباط کی وبره لویه اغیزه وکړه.

دوهم توپیر دا ؤ چی د اسلام علماء(اصحاب کرام) رضی الله تعالی عنهم په اسلامی نړی کی سره تیت شول، له دی نه مخکی حضرت عمررضی الله تعالی عنه اجازه نه ورکوله چی سره تیت شي نو ځکه فقهی اجماع ممکنه وه، د حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په وخت کی د اسلامی فتوحاتو له امله اسلامی نړی پراخه شوه، هره سیمه د قرآن مجید شرعی احکامو زده کولو او فتوا ورکولو ته اړه شوه نو دوی د امیر المؤمنین رضی الله تعالی عنه په امر سره په اسلامی نړی کی تیت شول، دهر یوه په یا د ځینی داسي حدیثونه وو، چی د نورو په یاد نه وو، د نصوصو په فهم او احتهادی ځواك کی یی هم توپیر سره درلود، د هر یوه په شونه او روزنه لوی لوی تابعین او مفتیان (رح) وروزل شول، د فتوا او اعتماد وړوگرزیدل؛ که څیرته د حج فریضه د حرمینو شریفینو مینه د مسلمانانو په زړونو کی نه وای- چی دوی به هلته په هر کال یو ځل سره راغونډیدل- نو د اسلامی امت علمی اړیکی به یو مخ سره شلیدلی وی.

دریم توپیر دا چی د حدیثونو روایت په پوره زور او قوت سره پیل شو، ځکه چی اسلامی نړیه پراخه شوه نوی نوی پیښی به کیدی او شرعی حکم ته به یی ضرورت ؤ، د پوښتنو ځوابونو ته اړتیا پیدا شوه، نو د فتوا ورکولو لپاره به هغو اصحابو کرامو ته - رضی الله تعالی عنهم- مراجعه کیدله چی له راشدو خلیفه گانو - رضی الله تعالی عنهم- څخه راوروسته پاتی ؤ! په دوی کی ځینو ډیر زیات حدیثونه په یاد ساتلی وو، هغو ته مکثرین ویل کیدل، لکه ابوهریره رضی الله تعالی عنه چی ویل کیږی(۵۳۷٤) حدیثونه یی په یاد وو، لکه ام المؤمنین عایشه رضی الله تعالی عنها چی ویل کیږی(۲۲۱۰) حدیثونه یی په یاد وو، د عبدالله بن عمر او انس بن مالك رضی الله تعالی عنهم د یادو حدیثونو شمیر هم ام المؤمنین رضی الله تعالی عنها نه ورنږدی بلل کیږی، د جابر بن عبدالله او عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهم یادو حدیثونو شمیر له (۱۵۰۰) څخه زیات یادیږی، دا ځکه چی یو خو ددوی عمرونه اوږده وو او بل دا چی له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره به ډیر وخت یو ځای وو او ځینو په حدیثونو پسی سفرونه کول؛ دغه دومره حدیثونه نه په یوه ښار کی غونډ وو او نه په یوه کتاب کی غونډ وو، عبدالله بن عمر، ام المؤمنین عایشه او ابوهریره رضی الله تعالی عنهم په مدینه منوره کی وو، عبدالله بن عباس رضی الله عنه په مکه مکرمه کی وو، عبدالله بن عمرو بن العاص د مصر په فسطاط(اوسنی قاهره) کښی وو، انس بن مالك رضی الله تعالی عنه په بصره کی وو، ابوموسی اشعری، علی بن ابی طالب او عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنهم په کوفه کی وو، دوی هر یوه په خپله سیمه کی له هغو حدیثونو نه فتوا ورکوله چی ورته یاد به وو- دغو دری واړو توپیرونو په اسلامی فقه کی ډیر زیات اختلاف رامنځ ته کړ- د خوارجو ځانګړی عقاید او فقه شوه، د شیعه وو ځان ته او د جمهورو اهل سنت و الجماعت ځانته عقاید او فقه منځ راغلی په دغه دریمه فقه کی بیا نور اختلافونه هم راغلل.

څلورم توپیر دا ؤ چی په دروغو حدیثونه جوړول په دغه دور کی منځ ته راغلل. دا هغه څه وو چی شیخین رضی الله تعالی عنهما ورڅخه ویریدل او د وروسته روایت کوونکو او مجتهدینو لپاره یی لاره اغزنه کړه او کړاوونه یی ورته پیدا کړل، دغه په دروغو جوړ کړی وضعی حدیثونه بلل کیږی، د ځینو متن(مطلب) بیخی دروغ وی، د ځینو متن ضعیف وی مگر صحیح سند یی وربوری تړلی وی، د ځینو یی سندونه رد او بدرگه کړی وی، ځینی د اصحابو کرامو یا تابعینو رضی الله تعالی عنهم خبری وی یا د حکماوو او فلاسفه وو خبری وی د حدیث سند یی وربوری تړلی وی په دوی کی مشهورکسان: بشیر بن کعب عدوی، حارث اعور، جابر بن زید الجعفی، ابو جعفر هاشمی او داسی نورو؛ ددغه کار سببونه دا وو چی د سیاسی نظریاتو، ډلو او رجالو د تایید او برحق شکاره کولو لپاره به یی په دروغو حدیثونه جوړول، یا زندیقان او د اسلام دښمنانوغوښتل یی چی له دغی لاری نه د مسلمانانو عقیده او دین وربد رنگه او شکمن کړی، یا یی د ژبی، قام او سیمی د تایید لپاره، یا خنو جاهلو زاهدانو د ترهیب او ترغیب لپاره دغه ناروا کار کاوه؛

پنځم توپیر دا ؤ چی د ډیرو آزاد شوی کسانو د اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم په لاس وروزل شول او لوی لوی علمی مقامونه یی ومیندل، مثلاً څیرته چی عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما یادیږی ده آزاد کړی شاگرد او راوی عکرمه رحمه الله علیه ورسره یادیږی، چیری چی عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما یادیږی ده ازادکړی شاگرد او راوی نافع رحمه الله علیه ورسره یادیږی، چیرته چی انس بن مالك رضی الله تعالی عنه یادیږی ده ازاد کړی شاگرد او راوی محمد بن سیرین رحمه الله تعالی علیه ورسره یادیږی، چیری چی ابوهریره رضی الله تعالی عنه یادیږی ده آزاد کړی او شاگرد عبدالرحمن بن هرمز الاعرج رحمه الله تعالی علیه ورسره یادیږی او داسی نور...

شپږم توپیر دا ؤ چی د حدیث او د قیاس(رأی) پلویان سره بیل شول، د حدیث پلویانو ته به چی مسئله راوړاندی شوه نو په قرآن مجید، حدیث او د اصحابو کرامو په فتوا گانو کی به یی ځواب او حکم ورته لټاوه، که پیدا به یی نه کړ نو چپ به پاتی کیدل او قیاس به یی نه کاوه- مگر کوم یو وخت- ځکه چی دوی د شرعی احکامو په معنوی مناسبت، معنوی تړاو او علتونو پسی نه گرزیدل بلکی په نصوصو پسی گرزیدل، ددغو بزرگانو اکثریت په حجاز کی ؤ او روایات هم ورسره پرمانه وو، حجاز خلك په ساده ژوند عادت وو، [illegible] تهذیبونه [illegible] عقیدی [illegible] لیدلی، نو ځکه یی [illegible] ته اړتیا [illegible] چی مجتهدینو کرامو رضی الله تعالی عنهم په تصرفونو [illegible] شوای ورته میندلای او [illegible] شوی وای.

د رأی (قیاس) پلویانو ته به چی پوښتنه راغله نو دوی به هم په قرآن مجید، سنت او د اصحابو کرامو رضی الله تعالی عنهم په اجماع او فتوا گانو کی حکم ورته لټاوه، که پیدا به یی نه کړ نو بیا به یی قیاس کاوه، ځکه دوی ویل چی شرعی احکام په مصلحتونو او علتونو بناء دی، شرعی احکام معقول المعنی او یو له بل سره په معنی کی تړلی او مناسبت لری نو کله چی د منصوصي حکم علت او مصلحت په غیر منصوصه قضیه کی راپه غه قضیه کی چی په قرآن مجید او روایت کی یی حکم نه وی موندلی شوی) موجود وی او د موضوعی قضیی حکم ورته راولیږدول شی، په دغه کار کی یی اسوه حسنه خلفای راشدین رضی الله تعالی عنهم او په تیره د عمر فاروق رضی الله تعالی عنه صادر کړی فرمانونه وو، ځکه هغوی رضی الله تعالی عنهم قیاس کړی ؤ.

ددغو بزرگانو اکثریت په عراق کی ؤ، عراق له یوه لوری نه د فتنو، پاڅونونو او ډلو ټپلو مرکز ؤ او له بله پلوه یی د فارس او روم تهذیبونه، فلسفی او عقیدی په خواو شا کی تیری شوي وی، نوځکه به ډول ډول پوښتنی او قضیی رامنځ ته کیدی چی ډیرونه یه منلی په صریح نص(قرآن مجید او سنت) کی حکم او ځواب نه شوای میندلای او قیاس ته به اړ کیده.

اهل حدیثو رحمه الله تعالی علیهم به په اهل قیاسو رحمه الله تعالی علیهم باندی داسی عیب لگاوه چی؛ ددوی د خپل قیاس لپاره حدیث پریږدی او عمل نه وریاندی کوی؛

مگر دغه ملامتی بی ځایه وه ځکه په اهل قیاسو کی هیڅوك داسي نشته چی قیاس به یی په ثابت سنت او ثابت حدیث وکړی.

ملی گرایی در خدمت صلیبیها

عبدالرحمن احمد هوتکی

(قسمت یازدهم)

تحریك مشهور(مارتین لوتر) و آغاز سقوط مذهبیت

مارتین لوتر در (۱٤٨٣-١٥٤٦) بیرق تحریك مشهورخود(تحریك اصلاحی و دینی) را بلند کرده و در مخالفت کلیسا رومی عسکری قوم جرمن را بدست آورد و در نتیجه در مقابل کلیسا شکست خورد و در اثر این شکست رشته وحدت اقوامیکه با هم یکجا شده بودند از بین رفت تیت و پراگنده شده و به گذشت زمان یکی بعد از دیگری بشکل ملی آزاد گردیدند و امواج سرشاری بیك نفرت و دشمنی میان هم بدل گشت.

تحریك لوتر وحدت دینی و فرهنگی اروپا را از بین برد؛

دانشمند انگلیسی«لارد [illegible]» به این ارتباط [illegible] کرده میگوید: «وقتیکه تحریك لوتر که آنرا تحریك اصلاحی و دینی] میگویند در اروپا وحدت فرهنگی و دینی را از بین برد [illegible] اعظم به حکومتهای قومی تقسیم شد، کش وکرکهای در نتیجه آن به میان آمد تشویش مستمری برای صلح جهانی گردید.»

در اثر انحطاط و سقوط اصول، و اخلاق دینی و مذهبی، فکرو اندیشه ملی گرای رشد و ارتقاء کرد که دانشمند متذکره به آن چنین اشاره دارد: «دین که رهنمای ضروری انسان است و یگانه وسیله [illegible] بردن مرام اخلاقی و ارزشهای باعزت زندگی معنوی میباشد که در نتیجه ضعف زمامداری آن [illegible] افکار و مناصب سیاسی روی کردند که [illegible] بر برتری و اختلاف نسلی و گروهی استوار است.»

غلبه ملی گرایی تفرق نژادی را سبب گردید؛

تأثیر ابتدایی و اولی از بین رفتن حاکمیت مذهب [illegible] مقابل ارتقاء و حاکمیت (ملی گرایی) که در نتیجه [illegible] حکومتهای بر مبنای اصول قومی به میان آمد این بود: الف- به طور عام اروپا در مقابل شرق به یك پایگاه دشمنی بدل گشت، کشور های [illegible] بر سر مستعمرات بین خویش رقابت داشتند [illegible] میکوشیدند که برتری و عظمت خود را در تاریخ، فرهنگ، علم، [illegible] نسبت به دیگران مقدم جلوه بدهند و ملتهای خود را نسبت به سایر ملتها از هر نگاه مقدم و برتر جلوه دهند در این وقت بود که حس برتری نژادی به میان آمد، سفید پوستان خود را از سیاه پوستان و رفته رفته از همه نژاد ها برتر قلمداد نمودند، در بین نژاد آریایی اعم از غربی و شرقی و میان سایر نژاد ها خط فاصل کشیدند و به فرق میان آنها قایل شدند طوریکه: همه افراد، [illegible] علم، ادب و... که در نژاد آریایی بوده ویا میباشد برسایر نژاد ها، دانش، ادب و ثقافت جهان برتری دارد. همه قضیه‌ها، مادی و معنوی آزادی، راحت، سعادت، خوشی و راحت، حکومت و سلطه [illegible]

[illegible] حق فطری تنهای ایشان میباشد و بس، غیر [illegible] همه باید محکوم و غلام اراده های آنها گردانیده شود و حق مستقل زندگی و پیش رفت را ندارند که همین نظریه(عصبیت) صلاحه نژادی را درونت خود رومیها و یونانیها داشتند که موسولینی در این عصر خواهان احیاء مجدد آن بوده و در این راه آنچه از [illegible] و بربریت به خرج داد از هیچکس پوشیده نمانده بود.

و از طرف دیگر صفه بندی بر اساس [illegible] را به قاموسها و واحد های کوچك کوچك تقسیم داشت و میان ایشان طوری خطهای فاصل را کشید که از آن روز انسان تصور کرده نمیتوانست.

قومها و حکومتهای اروپایی خود را یك جهان [illegible] کرده، کره ها و دریا های اروپا که کناره سود طبیعی را تشکیل داده اند، و خود [illegible] ها(اروپاییها) که به غرض مرام استعماری در ماحول و محیط خود [illegible] گرمك کوچك تصرف کرده اند [illegible] خارج از آن و آسمانهای دیگری وجود [illegible] به جز از تقدیس و احترام آن [illegible] شکل دیگر چیز ارزش و احترام برای آنها [illegible] خود را قابل ستایش و پرستش گردانیده اند، و همه علایق بنده گی و پاکی که [illegible] و معبود مناسب میباشد، آن علایق را به [illegible] خود نقل کرده اند قائم نموده [illegible] قربانی میدهند، جنگ آنها از جهت [illegible] زندگی و مرگ شان از خاطر آن میباشد.

عقیده اولی این معبود خود تراشیده آنها(قومیت) اینست که قوم از همه چیز کرده مقدم و بهتر است، به جز از این قوم(قوم اروپایی) در روی زمین قوم دیگری که از آنها کرده شریف، ذهین، قوی، خوب آگاه به سیاست رهبر خوب قومی، و قابل رهبری و اختیار باشد پیدا نمی شود آب دریا های آن آب حیات، خاك آن طلا و خارهای آن گل میباشد. این دین(دین قومیت) برای یك انسان تا وقت اجازه زندگی را در یك کشور میدهد تا بر آن کشور ایمان داشته باشد. لحاظ [illegible] قوم پرستی یك نوع میوه و برگهای میدهد طوریکه شده نمی تواند که یك قوم ملتها به ملت پرستی ایمان داشته باشد و بر دیگران تجاوز و تعدی نکند، ویا نخواهد که تجاوز نماید، از تذلیل وتحقیر دیگران پاك باشد.

طور مشخص هرگاه که دانش، ادب، شعر، فلسفه، تاریخ، حتی علوم طبیعی در اروپا از جزبه قوم پرستی خالی نبود و این روحیه(قومیت) را در برابر [illegible] و ازهرطرف در قوم و ملت غرور نژادی حس برتری بردیگران و برگذشته خود افتخار و فخر [illegible] به فزونی بود؛ هیچ کسی جلوگیری [illegible] و مذهبی از آن نمیشد، و رهبری آن به دست [illegible]

کسان بود که به جزء از دبدبه، و برتری قومی مرام و هدف دیگری ندارند.

دو عنصر (نفرت وترس) در ملی گرایی؛

نفرت و ترس دو عنصر ضروری زندگی ناسیونالیستی میباشد که بغیر از آن روح در آن پیدا شده نمیتواند، جوش و خروش ناسیونالیستی تا وقتی [illegible] نمیتواند اگر پیدا هم شود باقی مانده نمی [illegible] قوم و ملت آن دو عنصر (ترس و نفرت) موجود نشود و بکجیز برای آنها قابل ترس و نفرت نباشد، متشکه رهبر و زعیم قومی به وسیله عنصر ترس و نفرت احساسات آنها را به جوش آورده و در احساسات مرده وخاموش آنها مهر غضب، جوش و حربه ایجاد مینماید و در آنها آتش نفرتها وترس را مشتعل میسازد و از یك عادله و سخن کوچك یك اختلاف بزرگی را به صدا می آورد و به پیش کردن یك دشمن رستین ویا ترس حربه و احساسات نفرت و ترس را در ایشان زنده و مشتعل نگهمیدارد و در این کار و عمل زندگی و بقای حکومت و رهبری خود را میجوید، پروفیسور[جود] تحلیل فلسفی و روحی آنرا چنین کرده است:

«این احساسات مشترك که به انسان ظهور میکند و به پای ایستاده شده میتواند و گروههای بزرگ آزاد جمهوریرا مشتعل میسازد، احساسات، مهربانی، سخاوت، محبت نبوده بلکه احساسات و جریان ترس و نفرت میباشد، آنانیکه بر یك قوم غرض کناه مرامی و هدفی حکومت کردن و بزرگی میخواهند تا وقتی موفق و کامیاب شده نمیتوانند تا که برای آن قوم و ملت یك چیز را جستجو نه نمایند که از آن نفرت مینمایند، برای این کار یك شخص و ملتی را پیدا نه نماید که از آن میترسند. ماهم اگر اتحاد و یگانگی قومها و ملتها را میخواهیم باید برای آنها در یك سیاره غیر از زمین یك دشمن پیدا نمائیم مثلاً در مهتاب که این همه ملتها و قومها از آن بترسند. به همین اساس حکومتهای قومی و ملی امروزه با قومها وملتهای همسایه خود تحت تأثیر انگیزه های ترس و نفرت قرار دارند. بر همین احساسات بقاء زندگی، وقرت سیاسی و حکومتی آنها بسته میباشد و برهمین جریات واحساسات اساس وحدت قومی وملی آنها ارتباط میگیرد.»

واقعیت این است که ذهن تنها و مشخص ناسیونالیستی و اساس روش آن ایجاب مینماید که این دو عنصر(ترس و نفرت) برای همیش در آن باشد. این دو عنصرلازمی حیات ناسیونالیستی (ترس و نفرت) عقیده و اساس نظامها و حکومتهای سابقه ناسیونالیستی و فعلی آن را تشکیل میدهد. و همین دو عنصر، آن جنگهای بزرگ را بر بشریت تحمیل داشته که خاطرات و انگیزه های دخراش و مصیبت زایی آن درتاریخ به چشم میخورد و نمونه های بد آن تا حال موجود میباشد.

د سیکولیریزم خطر ته پام کوی!

په اسلامی نړی کی د ناسیونالیزم سرطانی جراثیم

مولوی عبدالحکیم «مجاهد»

اوومه برخه

ملکه هم به زیات بدون نقاب شفافت که باعث بلند شدن موج اعتراضاتی شد. بالاخره هیئت افغانی در بیست جون از سرحد افغانستان عبور نموده و توسط موتر از طریق قندهار وارد کابل گردیدند.»

(روابط خارجی افغانستان در نیمه، اول قرن بیست ۱۸٤ مخ)

د امان الله په خوا و شا کی«قدرت د یو شمیر محدودو ناسیونالیستانو او سیکولریستانو په لاس کی وو چی د امان الله خان د اسلام ضد او ملت ضد پروگرامونو تائید او حمایت یی کولو او هیواد یی د بد مرغی سره مخامخ کړ دغه حقیقت ته په اشاره سره ثوریك ادملك د خپل کتاب «روابط خارجی افغانستان در نیمه، اول قرن بیست» چی د پوهاند محمد فاضل صاحبزاده له خوا ژباړله شوی دی. په ۱۹۷ مخ کی لیکی: «امان الله خان شهرت زاید الوصفی خود را با مصرف مبالغ هنگفت کشورش و در اثر تطبیق ریفورمهای اجباری و نو آوریهای بی سابقه اش بر مردم از دست داد. منفور خاص و عام شد. امان الله، باستثنای یك دسته کوچك افغانهای تعلیم یافته که آنهم منحصر و مربوط به شهر کابل بودند، دیگر طرفداران و پشتیبانان قابل اعتماد نداشت تا از افکار او قدردانی میکردند.»

ددی دپاره چی د دولت اداری له دینی عالمانو څخه تصفیه کړی، د دینی عالمانو په خلاف یی سخت اقدامات وکړل، [illegible]

حمله شدید خود قرار داد و آنها را اشخاص متعصب و جاهل خواند که مسؤل جمیع عوام فریبی ها و منبع تمام تعصبات بیجا و اشاعه و پخش جهالت و نادانی ها می باشند.»

امان الله خان د خپلو پروگرامونو په لړ کی د یوی بلی بیانیی په ترخ کی چی د حربی سوونځی په غونډه کی یی خلکو ته واوروله، عسکری صاحب منصبان یی له مرید کیدلو او طریقت اخستلو سخت منع کړل، محمد علم فیض زاد د خپل کتاب په ۱۳۳ مخ کی دغه حقیقت داسی په گوته کوی: «او در بیانیه اش گفت صاحب منصبان عسکری از مرید شدن و دست پیر گرفتن ممنوع میباشند.»

امان الله خان د خلکو له عقیدی او عنعنی څخه دومره اجنبی او وحشی گرزیدلی ؤ چی د ښځو په بی پردی کولو، انگریزی گرده خولی، پطلون او نیکتایی اغوستلو بر سیره یی خلکو ته امر وکړ چی د کورونو د پردی دیوالونه ونړوی څو خلکو ته د کورنو سکولی څرگنده شی، او ښځی دی د طلاق او سپینو زرو زیورات نه استعمالوی خو خپله ملکه« ثریا » په حیرانونکی قیمتی زیوراتو باندی پټه وه. دغه حقیقت ادملك د خپل کتاب په ۱۲۸ مخ کی داسی لیکی: «امان الله خان مي خواست پغمان نمونه از شهر های معاصر باشد، بنا بر آن او امر کرد تا دیوار های بلند خانه هاي شخصی مردم آن محل از بین برداشته شود، تا خانه هاي مقبول مردمان متمول کابل را از نظر ها پنهان نسازد و مناظر آن [illegible]

بودجه، خود به صورت شخصی مصارف شان را متحمل می شدند. علاوه برآن امان الله در پای تخت هر کشور هزار پوند برای غربای آن به منابع خیریه میداد. همچنان او و همراهانش بعض خریداری های شخصی و حکومتی هم نمودند.» د کتاب په ۱۷۸ مخ کی لیکی: «سفر امان الله از لحاظ روابط خارجیش یك موفقیت فاقد کیفیت و مزیت بود.»

یادونه: په تیره گڼه کی مو په کابل کی د نجیب د حکومت سره د هند د نظامي مرستو په اړه یو لړ معلومات ورکړل، پدی گڼه کی به د مسعود ربانی د اداری سره د هند د مرستو په رابطه وغږیږو، خو څرنگه چه د کابل سره هندی مرستی ټل د روسانو د ارادو پوری تړلی دی نو لومړی ددی خبری سپینول ضروری بولم چه مسعود ربانی ولی د روسانو دومره تائید وشول چه د خپلو خواصو په دله کی ئی د ننه کړل.

معاصر افغانستان:

امان الله خان په ترکیه کی د دوو هفتو د پاره پاتی شو، هلته یی د ترکیی نوی نقلاب په غور سره مطالعه کړ. امان الله خان هلته بیانیی ورکړی چي داتاترك«د حاکمیت ملی» مجلس هغه ټولی لیکلی او ساتلی. د بیانیو ټول محور په ترکیه او افغانستان کی تجدد او مودرنای زیشن «Modernization» ؤ، دواړو مشرانو په داسی حال کی چی د اسلامی هیوادونو مشرانه وو.

په هیڅ یو ځای کی یی د اسلام نوم هم نه دی اخیستی. د«روابط خارجی افغانستان در نیمه، اول قرن بیست» په ۱۸۱ مخ کی لیکلی: «امان الله خان در خطاب های خود، به ترکی حرف زد، تا محبت و احساسات با حرارت و برادرانه، خود را با ملت برادر ترك وانمود سازد. آنچه در خطابه های آنها، قابل توجه است اینست که هیچ یك از سران این دو کشور اسلامی کلمه از اسلام را در طول صحبت خود بکار نبردند. اصطلاحات و علایمی را که بکار می بردند ملیت، نو آوری، و تجدد پسندي بود و بس.»

امان الله د خپل سفر په دوران کی په مصر کی چیری چی د سید جمال الدین افغان د اسلامی تحریك مرکز وو، د افغانستان د مجاهد او مسلمان پاچا په توگه گرم استقبال شو، ثوریك ادملك د خپل کتاب په ۱٦۸ مخ کی لیکی: «مردم مصر ملاقات امان الله را یك موفقیت فاقد شرایط لازم خواندند. از حین ورود خود به مصر، او به حیث یك پادشاه اسلام استقبال نشد. بلکه یك قهرمان آزادی جهان اسلام و پادشاه حساس و عدالت پسند و دیموکرات شناخته شد... خطابه اویا کف زدن های هیجان آور برقفه مراجه شد و صدا های زنده باد ملت افغان وزنده باد پادشاه دیموکرات افغانستان از هر طرف بلند گردید.»

ایران ته په رسیدو امان الله خان چی نږدی شپږ میاشتی یی په اروپا کی ددغه فقیر او مسکین ملت د بی شمیره پیسو په مصرفولو تیری کړی وی نو په لوی خرابی ته کړه او هیواد ته په مادی سرمایی څخه خلاص کوی وو او له یو بلی خوا یی خپل معنویات په گډه بایللی، د یوی غونډی جریان ادملك د خپل کتاب [illegible] په نوم کړی لیکلی [illegible] انتقاد از لحاظ پوشیدن کلاه اروپایی قرار گرفته بود... مسلم صلی الله علیه وسلم پوشیدن کلاه روی زن تخت سلطان شرط و لازم نیست. اگر عناصر ارتجاعی در کشور من، از این توصیه متحرفی پیروی نکنند که من میخواهم برای ایشان هرچه دارم دربین دین و دولت خواهد آمد. در مشهد امان الله بزیارت امام رضا(رح) رفت، بعد از آن [illegible]

په تیرو دوو لسیزو، په افغانستان کی

د هند لاسوهنو ته یوه لنډه کتنه

شاه جهان سرداری

(پنځمه برخه)

ربانی د عقیدوی کمزوریا ځینی مثالونه دادی چه:

أ- ربانی هیڅکله د قضایاو په اړوند کوم پریکنده او روښانه دریځ ندی اختیار کړی او که هر څوك وغواړی چی دا حقیقت درك کړی باید د جهادی مشرانو د ژوند د تاریخ پاڼی ولټوی کټ مټ به همدا حقیقت ومومی.

ب- ربانی په سازش او معامله گری کی ډیر پرکه وه لکه د حلزون غوندی به ئی د محیط سره سازش کاوه او په هر قالب کی به ځوړ راتلو. یو وخت هغه امریکا ته سفر وکړ او هلته ئی د یو غیرمسلم په قبر گلان وغوړول چه د هغه د [illegible] د [illegible]

فکر کوه چه د ایمانی جذبی څخه خو خلاص ئی نو هرڅه چه کولی شی کوه ئی خو دا چه یو څه پری وگټی.

د- د ربانی د ایمان د ضعف یوه بله نښه داده چه هغه د وطن په سیمه ایز ویش او تقسیم عقیده لرله او تل به ئی په خوله کی د شمال، جنوب او ... خبره اروله.

محمد زمان مزمل د الجهاد د مجلی په یوه گڼه کی په کابل کی د ولو تر منځ د شخړو عوامل څیړلی او دهغی په لړ کی ئی یو عامل دا ښودلی چه ځینی له دغه مشرانو د ایمان او عقیدی په کمزوریا مثلا دی. هغه وائی یو وخت په اسلام آباد کی د مشرانو د یوی غونډی په ترځ کی [illegible]

زیات وه چه په پیښور کی د هغی په غونډ اوو روسی بندیانو یو وخت قبضه وکړه او د هغه غونډ ټول مهمات او امکانات د هغوی په تصرف کی ولویدل او دا کار د ډیرو اخلاقی او اداری فسادونو څخه را پیدا شوی و.

۳- د ربانی د قوماندان احمدشاه مسعود او روسانو تر منځ د کلونو کلونو پټو او ښکاره رابطو یوه نتیجه دا شوه چه روسان دی په ربانی اعتماد وکړی. د کله نه چه د مسعود او روسانو اړیکی ښکاره شوی او د هغوی تر منځ د اوږند موافقه وشوه او د روسانو په اشاره مسعود د خپلو رقیبانو په ټکولو پیل وکړ نو دا معلومه [illegible]

د روسانو له وتلو وروسته د نجیب د حکومت په سلګولو، د هیواد ډیر ولایتونه او استراتیژیك موقعیتونه ئی له لاسه وتلی د صلحی په نامه ټولی پلمی او د وکی ئی شنډی شوی او ټولو ته ئی پرزیدل حتمی و بریښیدل.

روسان د نجیب د حکومت د بدیل په هڅه کی شول او ددی کار لپاره ئی دداسی چا لټول پیل کړ چه هغه هم مسلمان نامی وی هم یری د مجاهدو نوم ور نښتی وی او هم د روسانو او د [illegible]

[illegible]

په قندهار کی د علماوو اجماعی پریکړو په اړه امیدونه او اندیښنی

س، کنړی

د تیری چهارشنبی په ورځ د ۱۳۷۵ ش کال د وری خوارلسمه د هیواد په لرغونی ښار قندهار کی د هیواد د گوټ گوټ څخه را ټول شوو نخبه او جیدو علماوو اجتماع پای ته ورسیده.

دغه اجتماع چه د طالبانو داسلامی غورځنگ د مشرتابه لخوا د هیواد د بحرانی وضعی د بحث او څیړلو لپاره رابلل شوی وه تر څو داسی لاری چاری ولټوی چه په هغی سره زموږ ولس د موجوده غمجنه حالت څخه ووځی او د هیواد د اتلس لکو شهیدانو ارمانونو د تر سره کیدلو د پاره لاره پیدا کړی. د وطن ډیرو پوهو او د نظرخاوندانو علماوو چه شمیر یی نږدی پنځلس سوو کسانو ته رسیده برخه ئی پکښی اخیستی وه.

د گله نه چه د طالبانو د اسلامی تحریک د عونتامی د هیواد ددغو غمخورو ته ورسیدی هغوی ټولو لکه د پتنگانو غونډی په مجلس کی گډون کولو ته را ودانگل.

د هیواد په دننه کی د هر کلی او بانډی او په خارج کی د هر کیمپ څخه په لسگونو علماوو د طالبانو د اسلامی تحریک دعوت ته لبیک وویلو او په دغه تاریخی اجتماع کی ئی برخه واخسته.

د علماء کرامو هغه شوق او تلوار چه ددغی جلسی د اشتراک په اړوند ئی ښودلو چاته د تعجب وړ ندی ځکه دغه اجتماع د یو اسلامی وطن د ژغورلو اجتماع وه. هغه د اتلس ملیونو ځپلو زیانو مسلمانانو ته د نجات ورکولو اجتماع وه. هغه د ډیرو دښمنو او پلمو د شنډولو اجتماع وه چه ددی غیرتی مجاهد ولس د تشکیل لپاره طرح شوی دی او طرح کیږی. لکه څرنگه چه د هیواد د غو مجاهدو مسلمانانو علماوو پخپلو ټینو عشبو سره پدغه اجتماع کی گډون وکړ، د همدغه ایمانی جذبی او دینی غیرت، درایت، پوهی او فهم په رڼا کی ئی د هیواد د راتلونکی د ټاکلو لپاره داسی سرنوشت ساز پریکړه وکړی چه په هغی سره ئی زموږ د غیرتی ولس مړاوی امیدونه راژوندی کړی د هغوی ویرجنی ارزوگانی ئی پا ځه راوړی، د هغوی هیلی ئی له سره را ژوغونی کړی، د هغوی غمونه ئی په خوښیو بدل کړی او دټول هیواد او هیوادوالو د هوسا او سوکاله ژوندون په تاریخ کی ئی نوی پاڼی پرانستی.

علماوو پریکړه وکړه چه د طالبانو د اسلامی غورځنگ مشر محترم ملامحمد عمر آخوند نور د ټول هیواد د امیر المؤمنین وپیژندل شو ځکه هغه په ټولو هغو ولایتونو کی چه د هغوی په کنټرول کی دی، په هغی ټولو کی یی اسلامی شریعت پلی کړی، امن ئی تأمین کړی او د ملت ټولی شرعی ارزوگانی ئی پوره کړی دی.

په همدی توگه علماء کرامو پریکړه وکړه چه د هیواد ددغه امیر غیر شرعی مخالفت کول هیڅ جواز نلری.

علماوو له معزول ربانی نه غوښتنه وکړه چه د ځوکی نه گوښه شی او ئی ویل چه شرعاً د ربانی تابعداری له دی وروسته ناروا ده او دا ځکه چه هغه په بهرنیو کفری قوتونو متکی دی، د هیواد د مشکلاتو د حل څخه عاجزه پاتی شو د بیرزله هیوادوالو هیڅ ستونزی ئی حل نه کړای شوی.

موږ یقین لرو چه د علماوو دا پوله پریکړی به د علمی پلټنو ډیرو لوڅوڅو او عبادتونو وروسته ترسره شوی وی خدای ته به ډیری زاری او تنوانی شوی وی ډیری مسنونه دوعاگانی به ویل شوی وی او بیا به دا حق فیصلی منځ ته راغلی وی ځکه داسی حقه او مشروع فیصلی څو د همداسی عبادتونو زیږنده وی.

که له یوی خوا د علماء کرامو دغه فیصلو زموږ د ملت امیدونه را بیدار کړی څو له بلی خوائی د ټولو دښمنو او منافقو ځیرو د غدرونو او پلمو سوړی بندی کړی.

منافقانو به ویل چه طالبان څو مجهول الهویه خلک دی تر اوسه ئی امیر معلوم ندی نو موږ څرنگه د هغوی ملگرتیا وکړو؟

ښه شوه چه اوس څو دا ټولو ته پرېنده شوه چه طالبان څوک دی او مشر ئی څوک دی څو د اندیښنی ځای دا دی چه که دغه ځیری نورهم په خپل جهل او تعصب ټینگار وکړی بیا د نورو انتلافونو او د خارجیانو د مرستو په لور سترگی واړوی او د علماوو د دغی شرعی پریکړی په ضد د افغان مسلمان ولس سره د جگړو لاری غوره کړی، دا به ددغه خوږیدلی ملت سره جفا وی او د اسلامی شریعت مخالفت.

دا به ډیره د اندیښنی ځای وی چه که څوک د روسانو او هندوانو کومکونو ته مخ واړوی او د هیواد د معصومو بچیانو دینی طلبه و د قتل او وژلو لپاره خپلی چړی په روسانو او هندوانو تیری کړی.

دا به ډیره د تأسف وړ وی چه د کابل ضعیف النفس او ضعیف الایمان واکداران دی نورهم د مسکو په نوی پښتوانی توټونو اتکاء وکړی او د هغی په شنډولو دی په هیواد کی د شخړو لړی جاری وساتی.

موږ په دی هیله او امید یو چه نور به زموږ د ټولو وطنوالو عقدنه سر له راشی نور به څوک د خارجی دښمنانو په لمسون زموږ د بی گناه ولس د وینو تویولو زړونه به نه کړی. موږ به ټول د هیواد د علماوو اسلامی او شرعی فیصلو ته سر کیږدی او د قرآن د ویشتنو څخه به ډډه وکړی.

څو که هرڅوک د هیواد د علماوو د فیصلو څخه سرونه وغړوی، د هغو په ضد جنگ اعلان کړی، د اسلامی شریعت سپکاوی ته ادامه ورکړی د قرآن حافظان د توپونو او مرمیو ... زموږ د ملت امیدونه ... گری نو زموږ په دی ایمان دی، په دی عقیده لرو، په دی موږ یقین دی چه د شیطان کید او دسیسی ضعیفه دی هغه هرگز هم د خدای د شریعت مخه نشی نیولی، هغه هرگز هم اسلامی حکمرنه نشی ماتولی، نو که هرڅوک دداسی اشتباهاتو او خطاگانو په ارتکاب کی نورهم ووپ شی نو بایستی چه بی ناوره وی.

نتیجه دا چی په قندهار کی د علماوو پریکړه چی په شرعی لحاظ د ټول افغانستان نمایندگان دی ټول خلک په نوی ازمینت کی اچولی او هغه څوک به نیکبخته وی چه هغه ئی ومنلی مگر هغه به بدبخته، خوار، ذلیل او رټلی وی چه د هغو څخه ئی سرغړونه وکړه او یا د هغو په منلو کی ئی سستی وکړه.

موږ باور لرو چه نور به پدی ملک کی د خدای د رحمت بادونه والوزی او زموږ مسلمان، مجاهد او غیرتی ولس به هوسا، سوکاله، مطمئن او د اسلامی شریعت په رڼا کی خپل ژوند د سره پیل کړی.

د ادب ملغلری

عبدالغفور ملهم ابراهیم خیل

په الله گران لټوم
نبی سلطان لټوم

گرځم په دښتو په رغو کی خپل جانان لټوم
د خپل امت نه مرور په الله گران لټوم
په دی اسلام قلم قلم نبی سلطان لټوم
نشته صدیق، نشته عمر، نشته عثمان غنی
نشته علی، نشته حسین، نشته شهید حسینی
نشته حمزه غوندی باتور غازی قریش مدنی
نشته خالد چه د کفارو بیخ بنیاد و کنی
در په درگرځم بن عوف عبدالرحمن لټوم
د خپل امت نه مرور په الله گران لټوم
په دی اسلام قلم قلم نبی سلطان لټوم
چه بی ریا کوی جهاد ټل د الله د پاره
خاص بی غرض وی د اسلام د دین بقا دپاره
نه پی چوکی نه دنیا وی مطلب سبا د پاره
نه د چا کور ماندی ورځی بل مدعا د پاره
د تنظیمونو نه یی بیز اوس طالبان لټوم
د خپل امت نه مرور په الله گران لټوم
په دی اسلام قلم قلم نبی سلطان لټوم
وایی «ملهم» ابراهیم خیل شکر اسلام قوی دی
ځکه ددی دین محافظ یو لوم سلام قوی دی
بل پاک الله په دښمنانو تل مدام قوی دی
هم یی نظام له هره حیث په هر نظام قوی دی
زه یی په لا قوت سمبال اتل غازیان لټوم
د خپل امت نه مرور په الله گران لټوم
په دی اسلام قلم قلم نبی سلطان لټوم

اسلامی انقلاب

استاد عبدالباری (الغیرت)

هم دی رعدهم دی برق هم توفان هم سیلاب
اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
هم مشعل د تیارو ځلند لمر هم شهاب
اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
په دښمن بی غورځنگ بی پسرو له گرزنگ
پست ابرو ده او تنگ
غواړی ژوند انسانی آسمانی یی کتاب
اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
د جابر دی دښمن تل په عدل مین
شایی دین او وطن
د ظالم کور به ئی با سبا کړی خراب
اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب
کړی وطن به آباد ویه رسی په داد
ورک په کاندی فساد
ټول په اوسی خندان ما لیدلی دا خواب
اسلامی انقلاب اسلامی انقلاب

سخنانی از بزرگان

بزرگی را در تقوی یافتم و توانگری را در یقین و عزت را در تواضع، ای بندگان خدا(ج) با یکدیگر قطع رابطه نکنید، بغض نداشته باشید وبا یکدیگر حسد نکنید. چنانچه خداوند(ج) دستور داده باهم برادر باشید. (حضرت ابوبکر صدیق رض)

احساس مسئولیت

قسم به خدا که جانم در اختیار اوست هرگاه شتری در کرانه، فرات تلف شود می اندیشم که خداوند(ج) روز قیامت راجع به آن ازمن بازخواست نماید. (حضرت عمر رض)

بزرگترین بر بادی

بزرگترین بر بادی اینست که به کسی عمر دراز عنایت گردد اما او برای سفر آخرت هیچ نوع آمادگی نداشته باشد. قبر جای راحت کسانی است که دنیا برایشان بندی خانه باشد. (حضرت عثمان رض)

تقوی

روزی امام صاحب در آفتاب سوزانی نشسته بودند کسی پرسید چرا زیر سایه، دیوار نمی نشینید؟ گفت: بخاطری که صاحب دیوار قرضدار من است. (امام اعظم رح)

په شانه راځم

لائق احمد (الشباء)

توری توری شپی که لا اوږدی شی په شا نه راځم
یکی له وهمونو شی درنی شی په شا نه راځم
چول او بیابان دی که په کومی د بلا کی وم
داری بی زما په وینو سری شی په شا نه راځم
گام په گام خطری دی مرگو کو می شلولی دی
توری بورنوونکی هم تیاری شی په شا نه راځم
ټالندی زلی می د گولیو استقبال وکړی
خړ چاړونه، وریځی را خوری شی په شا نه راځم
مخی ته لښکری د احزابو راته پنډی شی
سپیڅی رڼا ورځی را نه شپی شی په شا نه راځم
زه چپاو د غم ته لکه غر غونډی دریدلی شم
ټول مزل می غم شی اندیښنی شی په شا نه راځم
بوځل چه لیلی د خپلواکی په غیږ کی ونیسم
تل می که رندی دواړه لیمی شی په شا نه راځم
دا دغیرت لاری له نیکونو راته پاته دی
ماتی می که خپلی غیرگی پښی شی په شا نه راځم
خپله مینه گورم د رقیب گواښونه څه کوم
پل په پل که لار کی غرغری شی په شا نه راځم
زه هم التیام یم سور انګار راته گلونه شی
لار می که سکروټی شی لمبی شی په شا نه راځم

په قندهار کی د دینی عالمانو تاریخی فیصله د شریعت په رڼا کی

ابو عبدالعلیم

په قندهار کی د ۱۳۷۵ ش کال د وری د میاشتی خوارلسمه نږدی یو نیم زرتنو دینی عالمانو چی اکثر یی جهادی قوماندانان وو د ربانی اداره غیر قانونی او ربانی یی د هیواد معزول او غیر شرعی رئیس جمهور وباله، او د طالبانو د اسلامی تحریک مشر مجاهد ملا محمد عمر آخند سره یی د امیر المؤمنین په توگه شرعی بیعت وکړ چی د افغانستان په تاریخ کی یی ساری نه لیدل کیږی. د افغانستان دینی عالمانو دغه شرعی او اسلامی اقدام به انشاء الله ډیر ژر هیواد ته ددغی ویرجنی او ځوروونکی وضعی څخه نجات ورکړی.

که څه هم مجاهد ملا محمد عمر آخند ته د امیر المؤمنین لقب ورکول څیونړه د یوه سپین گیری او له لویدیځ څخه د مرعوب مشر د پاره لږ د تعجب وړ گرزیدلی دی چی له غربی راډیوگانو سره یی په مرکه کی هغه د تړی، او گاونډی هیوادونو د پاره خطر بللی دی چی نور به گواکی د ټولی نړی مؤمنین له د، سره بیعت کوی. خو دده دغه تعجب او لویدیځ څخه مرعوب کیدل او له اسلامی سیاسی اصطلاحاتو نه وده کول څه نوی کار نه دی او نه خو کوم وزن لری. ځکه دغه جناب د جهاد په پیل کی د جهاد په کلمه باندی انتقاد کاوه، چی په دی باندی غرب خفه کیږی ویل به ئی هسی نه چی د ترورېزم په تور لیست کی مو ونیسی. او بیا یی د حرکت انقلاب اسلامی افغانستان له قیادت او پوځای کیدو څخه په دی خاطر ډډه وکړه چی دغه گوند په نوم کی اسلام لیکل شوی لویدیځ په دی باندی خفه کیږی او له موږ سره بیا مرسته نه کوی. وروسته یی بیا د جبه نجات ملی افغانستان، په نوم باندی گوند جوړ کړ چی د جهاد او اسلام له دواړو تومتونو(!) څخه یی ځان خلاص کړ (العیاذ بالله).

په دغه گوند کی دغه جناب د هیواد ناسیونالیستان او سیکولر عناصر ددی د پاره راټول کړل چی غرب وریاندی خوشحاله کړی او مرسته (المتأ بخسا) یی ترلاسه کړی. خو د الله تعالی د عزت او ذلت ورکولو له قانون سره سم د ټولو گوندونو په پرتله ددغه گوند روزی تنگه وه او پیروان یی د ټل د پاره له صفر سره برابر وو.

داچی دی غواړی ایران او پاکستان په دی باندی وویروی چی د امیر المؤمنین په توگه دوی هم باید له مجاهد ملا محمد عمر آخند سره بیعت وکړی، موږ په دی باندی سخت تعجب کوو او حیران یو چی دی لا تر اوسه په دی باندی نه دی خبر چی د ایران گاونډی دولت د امامت د مفکوری په اساس جوړ او اداره کیږی او سیدعلی خامنئی یی رسماً امام دی خلک ورسره بیعت کوی. او همدارنگه د پاکستان د مسلمانانو تاریخ د خلافت د تحریک او مبارزو څخه ډک دی چی دغه دواړه کلمی: امامت او خلافت له امارت څخه زیات اسلامی ترپواله پنه او مفهوم لری.

د افغانستان د علماوو له دی فیصلی څخه ددغه جناب په شمول د افغانستان ټول خلک باید پیروی وکړی، تولی ولی ټیلی چی تر اوسه یی په یوه او بله بهانه د غیر شرعی جگړو په اساس د مجاهد ملت د نړیوال وقار او عزت شمله را ټیټه کړی وه او په هیواد کی د یوه با وقاره مستحکم مرکزی اسلامی حکومت د جوړولو مانع گرزیدلی دی، نور د اسلامی شریعت په چوکاټ کی ددی حق نه لری چی په دغه جگړی ځپلی هیواد کی نورهم د جگړو اور ته لمن ووهی او د افغانستان د مجاهد او مسلمان ملت د شرعی فیصلو او ارادو په وړاندی خنډ وگرزی. او په دی توگه په هیواد کی د امن، سولی، او شرعی نظام د هغه نجات...

بسونکی بهیر مخه ونیسی چی د طالبانو د اسلامی تحریک د مشر مجاهد ملا محمدعمر آخند تر عاقلانه او مؤمنانه قیادت لاندی مخ په وړاندی روان دی. او هر ځای یی د هیواد والو له خوا هرکلی شوی دی. ځای په ځای یی د لوټماری، زنا، لواطت د پاټکونو په ځای د عدل انصاف او اسلامی ورورولی او اقامة الصلوة مرکزونه جوړ کړی دی. د افغانستان مظلوم خلک چی سر، مال او ناموس یی په امن نه وو د هغوی ژوند یی د وحشیانو او ظالمانو د ظلم څخه په امن کړ. له خونخوارو انسانانو څخه یی د خلکو مالونه، سرونه او ناموس د شریعت د نفاذ په برکت وساتل. د تیاپی نه زیات افغانستان ټولی او سرحدونه یی د هرډول تعرض څخه محفوظ ساتلی دی.

په قندهار کی د یونیم زرتنو دینی عالمانو او جهادی قوماندانانو چی شرعاً د ټول افغانستان نمایندگان دی، ددغی تاریخی فیصلی شرعی ابعاد ډیر واضح او ښکاره دی. افغانستان یو اسلامی هیواد دی، د روسانو او کمونیستانو په خلاف یی یو نیم میلیون شهیدان ددی د پاره ورکړی دی چی د هیواد فیصلی به په اسلامی شریعت باندی کیږی.

او په اسلامی شریعت باندی پوهانی اسلامی عالمان پوهیږی ددوی د فیصلی دوه عمده ټکی چی ربانی معزول، واجب الازاله او مجاهد ملا محمد عمر آخند شرعی امیر المؤمنین دی، د اسلامی شریعت له اصولو سره سم ډیر واضح او څرگند دلایل لری چی په آسانی سره یو څوک وریاندی پوهیدلی شی.

امام ابوالحسن ماوردی په خپل کتاب الاحکام السلطانیة کی د امام یا امیر المؤمنین مسئولیتونه داسی په گوته کوی:

۱- ددین ساتنه به ددین د ثابتو اصول او سلفو د اجتماع سره سم کوی. مخالفینو ته به په دلیل سره قناعت ورکوی.

۲- په جگړه کونکو باندی به شرعی حکمونه تطبیق کوی. دښمنی به پای ته رسوی مظلوم ته به د ظالم له ظلم څخه نجات ورکوی.

۳- له دسمن څخه به د هیواد ساتنه کوی، څو خلک په امن او سکون سره ژوند وکړی، د ځان مال له خطری څخه پرته په هیواد کی سفر وکړای شی.

۴- د شرعی حدودو به په هیواد کی تطبیق کوی، څو چی د الله (جل جلاله) له خوا د حرام شویو اعمالو ارتکاب ونشی او دده د بندگانو حقونه تلف نشی.

۵- د هیواد د سرحدونو او پولو ښیپړه ساتنه وکړی. څو ناڅاپه دښمن په هیواد باندی حمله ونکړی او د مسلمانانو او ذمیانو (غیر مسلمان اتباع) ژوند له خطر سره مخامخ نه شی.

۶- اسلامی دین ته به د خلکو دعوت او بلنه کوی، له مخالفینو سره به جهاد کوی.

۷- له شرعی احکامو سره سم به خراج او نور صدقات بی دکومی ویری او ظلم او زور نه پرته را ټولوی.

۸- له بیت المال څخه به مستحقینو ته معاش او مصارف ورکوی او په دی هکله به له اسراف او بخل څخه ډډه کوی.

۹- اداری چاری به با تقوی او با کفایته انسانانو ته سپاری، او مالی چاری به هم د با اعتماده یا دیانته او اهل کسانو په لاس ورکوی څو بیت المال محفوظ پاتی شی.

۱۰- دولت ټول اداری ارگانونه به تر خپل نظر لاندی لری، اداره به یی خپله کوی، له ټولو واقعاتو څخه به ځان خبروی. څو د خلکو ساتنه او امنیت باوری کړی. د عیش او عشرت او یا په نفلی عبادت باندی د زیات مصروفیت له امله به اداره بل چاته نه سپاری. چی بیا با دیانته هم په خیانت پیل کوی او وفادار بی وفا کیږی. ربانی چی خوگاله کیږی د افغانستان د اسلامی دولت د مسئول په توگه یی په خلکو باندی ځان وړتیلی دی پورتنی مسئولیتونه یی نو هم سرته نه دی رسولی. ددین ساتنه یی نه ده کړی، د کمونیستانو فعالیتونه دده په سیمه کی په ښکاره جریان لری، د هیواد داخلی جگړی یی له منځه نه دی وړی، د هیواد داخل امنیت یی نه دی تأمین کړی، شرعی حدونه یی نه دی نافذ کړی، لوټماران، لوطیان، زانیان، آزاد گرزی د هیواد د پولو ساتنه یی نه ده کړی. روسی طیاری په بدخشان د تل د پاره بمباری کوی او د هیواد معصوم اتباع په شهادت رسوی اسلامی دعوت وجود نه لری، د روسانو او هندوانو اسلام ضد فعالیتونه جریان لری. په هیواد کی د عشر، زکوة او نور د ... ملت مستحقینو ته څه نه ورکوی، خلک له لوږی څخه مری دوی عیاشی کوی. اداری فساد اوج ته رسیدلی، بانکونه خپله ددولت د بودجی د ورکولو په وخت کی معلومه فی صدی رشوت ترلاسه کوی، د عامو خلکو امانتونه بی رشوته نه ورکوی. کار اهل او با تقوی خلکو ته نه دی سپارل شوی دولتی اداری له پخوانیو کمونیستانو او رشوت خورو څخه ډکی دی. په دولتی چارو کی ربانی هیڅ قدرت نه لری، قدرت له مسعود، عبدالرحمن، فهیم او قانونی سره دی. په دی توگه ویلای شو چی ربانی د اسلامی دولت رئیس یا امیر المؤمنین په توگه د مسئولیت د ترسره کولو توان نه لری، بواځی د روسیی او هند ایران د پیسو او وسلو په زور په هیواد کی د اسلامی شریعت د نفاذ په وړاندی خنډونه اچوی، او د جهاد د شهیدانو د ارمانونو سره لوبی کوی. څو په نورو اسلامی هیوادونو کی اسلامی تحریکونه له مایوسی او ناکامی سره مخامخ کړی دی.

څو د ربانی برعکس په مجاهد ملا محمد عمرآخند کی د پورتنیو ټولو مسئولیتونو د سر ته رسولو توان موجود دی او په عملی توگه یی د هیواد په له نیمایی نه زیاته برخه کی د اسلامی امارت او امامت مسئولیتونه ترسره کړی دی. د اهلیت او کفایت ټول شرعی شرطونه په ده کی موجود دی، ددینی علومو عالم دی، دروند او عالی شخصیت لری. په بدنی لحاظ سالم او د بدن ټول سامعه، باصره، شامه، ذائقه او لامسه حسونه یی الحمد لله په ځای دی. د ذهن او ځیرک مغز لرونکی دی. په هر کار کی له الله تعالی څخه زیات ویریږی. په هیواد کی یی داخلی امن او سکون دیولو امن په ښیپړه توگه تامین کړی، د کارونو عادته په خپله کوی. د یر نږدی دی چی په ټول هیواد کی به اسلامی شریعت نافذ او یو مضبوط مرکزی اسلامی دولت به دده په قیادت کی را مینځ ته شی. انشاء الله

ربانی که مسلمان وی ځانته باید مرگ وغواړی

الحاج مولوی محمد صادق

حضرت عمر رضی الله تعالی د اسلامی خلافت په ښه چلونه او د اسلامی ستر هیواد په ښه اداره کی ډیر زیات شهرت درلود، دده مبارک له مقولو څخه دی چه که د فرات یا دجلی د دریاب په غاړه یو غاروی د لاری د خرابی له کبله گوډ شی نو مسئولیت به یی دده په غاړه وی چه د مسلمانانو د خلیفه په حیث یی د هغه ځای لاری ولی نه دی سمی کړی. دا څو د غاړوو په اړوند د حضرت عمر رضی الله عنه د اداری مسئولیت احساس وو، د انسانانو په مشکل او بد امنی څو به دی مبارک ډیر ځوریده او له لوی خدای (جل جلاله) څخه به ویریده.

ابن کثیر رحمة الله علیه په البدایه والنهایه کی لیکی: چی حضرت عمر رضی الله عنه به هرکال حج ته د حاجیانو مشری او رهبری کوله، په وروستی حج کی دده مبارک امهات المؤمنین هم ورسره بیولی وی چه په هغوی کی دده لور حفصه رضی الله عنها هم ورسره وه. کله چی د حج له مناسکو څخه فارغ شو، په عینی کی شاید تخته ځملاست او خدای (جل جلاله) ته یی په دعا شو. ... دی ویل یا الله! اجل ...

... (جل جلاله) د اسلامی مملکت پولی پراخی او ... رعیت او ولس ډیریږی او زه سپین گیری یم اداره یی ... راته گرانه ده. ماته مرگ د شهادت را په برخه کړه او هغه هم د حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په مدینه کی. حضرت حفصه رضی الله عنها وایی چی زه حیرانه شوم چی ځنگه دی شهادت په مدینه کی له الله تعالی څخه غواړی، په داسی حال کی چی مدینه منوره خو د هر ډول جگړو او شخړو څخه پاکه وه. او دده مبارک په امارت کی د اسلامی مملکت په هیڅ ځای کی جگړه او شخړه نه وه او نه خو څوک په قتل رسیدلی وو.

د حضرت عمر رضی الله عنه دغه دعا چی د ... سپین گیرتوب له کبله یی د خلافت یا اسلامی دولت د اداری کمزوری د احتمالی پیښیدلو له ویری کړی وه په داسی حال کی چی عملاً کومه اداری ضعف هم مینځ ته نه وو راغلی او دهیواد په گوټ گوټ کی امن او سکون موجود وو. الله تعالی دده دعا قبوله کړه او په مدینه منوره کی د هجرت په ... کال ددی الحجی په ډروپشتمه نیټه په داسی حال کی ...

چی د سهار په لمانځه باندی ولاړ وو، د ابولؤلؤ مجوسی ایرانی له لاسه سخت ټپی شو چی وروسته په شهادت ورسیده. وانا لله ...

برهان الدین ربانی چی ځان د دینی علومو په اصطلاح پروفیسور بولی او ځانته په افغانستان کی د اسلامی مبارزی مخکښ وایی، اوس په داسی حال کی چی د کابل له څو کیلومترو نه د باندی د هیواد په هیڅ سیمه باندی کنټرول او اداره نه لری، او ځان د ټول افغانستان رئیس جمهور بولی، هره ورځ دده له لاسه په هیواد کی د پاکو مسلمانانو وینی تویږی دینی طالبان او عالمان په شهادت رسول کیږی. که دی واقعاً مسلمان وی، او د آخرت د ورځی په حساب او کتاب باندی ایمان لری ځانته باید مرگ وغواړی او یا خو لږ تر لږه د علماوو ورستی شرعی پریکړی ته غاړه کیږدی. له دغه ستر مسئولیت څخه ځان اوږی سپک کړی. او له لوی خدای (جل جلاله) څخه د کړو جرمونو او گناهونو عفوه او بښنه وغواړی. د روسانو، هندوانو، او ایرانیانو په ځای د طالبانو اسلامی تحریک ته پناه وروړی چه تر اوسه یی هیڅ شخص نه دی ځورولی.

مجاهد ملا محمد عمر آخند ...

زموږ په تاریخ کی د علماء کرامو کارنامی په زرینو کرښو ثبت دی، د انگریزانو او روسانو ستری امپراتوری ددوی په لاس راوپرزیدی، همدا ډول علماؤ هر ځلی هیواد له خپل سختی شخړو څخه وژغوره، اوس هم چی په افغانستان کی د روسانو لخه لمسه کورنی جگړه روانه ده همدا تاسو علماء یاست چی دا حالت به پای ته رسوئی او ملت له به له دغه تباه کوونکی حالت څخه نجات ورکوئ. هغه منافقین به له منځه وړی چی د هیواد له آزادی وروسته یی خپلو غاړو ته د غلامی کړی اچولی او هیواد والو یی له بدنامی سره مخامخ کړی دی.

دده خپلی وینا په یوه برخه کی وویل، هیواد هغه وخت د تباهی کندی ته لاهو شو چی د جهاد په سختو پوځو کی مسعود له روسانو سره اوربند وکړ او هغوی ته یی داو ورکړ چی ددوی ارمانونه به پوره کوی، ربانی چی روسان د افغانستان د تباهی مسئولین نه گڼی دا د افغانستان د اتلس لکه شهیدانو له وینو سره خیانت دی ځکه چی د افغانستان پروس تباهی او نننی تباهی ټوله د نننی روسیی په غاړه ده. خو ربانی وایی چی پخوانی روسیه یو پرغلگر قوت ؤ او اوسنی روسیه یو سوله دوست هیواد دی ځکه نو موږ ورسره کوم مشکل نه لرو، خو موږ وایو چی ربانی رښتیا وایی ځکه چی د چیچن د مسلمانانو وینی پخوانی روسیه تویوی، له تاجکستان څخه مسلمانان پخوانی روسی شړلی دی چی همدا نن هم زموږ په خاوره کی د هجرت شپی سباء کوی، همدا رنگه پرون زموږ د هیواد په شمال کی د بدخشان او تخار پر مسلمانانو هم څلی پخوانی روسیی بمباری وکړی او زموږ بی گناه خلک یی پخپلو وینو ولمبول.

مولوی محمد صادق وویل: اوس هند او ایران هم زموږ په کورنیو چارو کی مداخله کوی او د افغانستان د مسلمان او مجاهد ملت پرخلاف د ربانی له اداری سره مالی او نظامی مرسته کوی، ځکه هغوی غواړی چی د ربانی په واسطه زموږ خلک وځپی هند له دی څخه ویریږی چی که چیری په افغانستان کی یو اسلامی نظام منځ ته راغی نو ورسره جوخت به له کشمیر څخه ددوی د ظلم ټغر ټولیږی.

د ننگرهار د ولایت د علماؤ په نمایندگی د اتحاد اسلامی د تنظیم د اجرائیه شوری غړی مولوی محمد اکرم هم د غونډی د ویناوالو له جملی څخه و، دده د خپلی اوږدی وینا په یوه برخه کی وویل: سیاف او قاضی وقاد څانونه د ربانی د اداری دلالان جوړ کړی دی، دوی دواړه له روس څخه راغلی پیسی په جلال آباد کی په علماو او واکو والو باندی ویشی تو څو د طالبانو د اسلامی غورځنگ په مقابل کی یی ودریږی.

دده زیاته کړه: زما د معلوماتو له مخی دوی هره میاشت ربانی الغانی په دی ډول ویشی چی ددوی دا کار د جلال آباد د خلکو د سختی کرکی سبب گرځیدلی دی، دده وویل: د ربانی له اداری سره د طالبانو د تحریک پر خلاف اتحاد او ائتلاف کول د الله جل جلاله لمسی او غضب ته دعوت ورکول دی. ځکه د ربانی اداره یوه ظالمه وینی بهوونکی اداره ده نو له دغی اداری سره مرسته کول یو عظیم خیانت دی، زه بیا بیا وایم چی د طالبانو تحریک د ملت نماینده تحریک دی، د هری ژبی او هر ولایت د خلکو نمایندگی لری، ده په پای کی د حنفی فقهی په رڼا کی د علماؤ د اتحاد او یووالی غوښتنه وکړه.

غونډی ته د غزنی ولایت د علماؤ په نمایندگی مولوی گل محمد هم خبری وکړی او د خپلو اوږدو خبرو په یوه برخه کی یی وویل: د ربانی حکومت یو غیر شرعی او غیر قانونی حکومت دی، دی د روسانو او کمونیستانو په مرسته غواړی پر افغانانو حکومت وکړی، د کفری طاقتونو د خوشالولو لپاره یی په کابل کی هرډول فحشا، ته اجازه ورکړی ده، شراب څښل، زنا کول او نور غیر شرعی کارونه عادی کسب گرځیدلی دی او په کابل کی ددغو کارونو رواج عامه غوره کړی ده. افغانانو جهاد ددی لپاره کړی ؤ چی یو سوچه اسلامی حکومت به جوړیږی، خو په تأسف سره باید ووایو چی ربانی او دده انډیوالانو د ملت دغه ارمان ترخاورو لاندی کړ، خو اوس موږ فیصله کړی ده چی په وطن کی به اسلامی نظام راولو. دده د خپلو خبرو په پای کی وویل: ملا محمد عمر آخند یو شرعی امیر دی، ټول هیواد وال قلباً او روحاً ورسره مله گړی دی، نو زه وایم چی اطاعت یی په ټولو باندی ضروری دی.

په دی تاریخی غونډه کی د تخار ولایت د علماؤ هیئت هم برخه درلوده، ددی هیئت په نمایندگی مولوی عبدالعزیز تخاری ټوپری د هغه ولایت د خلکو پیغام او سیکی هیلی د غونډی برخه والو ته ورسولی او زیاته یی کړه:

مردم مسلمان و مجاهد ولایت تخار از تحریک اسلامی طالبان حمایت میکنند زیرا مردم از ظلم و ستم به تنگ آمده اند، شما آن وقت حمایت و محبت مردم تخار را خواهید دید که تحریک طالبان کار خود را در آن ولایت شروع کند. در ولایات جنوب و جنوب غرب کشور عزیز پیشرفت طالبان چند ماه را در بر گرفت اما اگر در ولایات شمال کشور این تحریک فعالیت خود را شروع کند من به یقین گفته می توانم که در خدود چند روز همه ولایات شمال کشور تسلیم مجاهدین تحریک اسلامی طالبان خواهد گردید.

مولوی عبدالعزیز افزود: اداره، نام نهاد ربانی که بر پایه، پیسه، بی پشتوانه، روس استوار است تبلیغ میکند که طالبان پشتونها اند و این تحریک پشتونهاست که باید در مقابل آن مقاومت کرد، من برایشان یاد آوری میکنم که در اسلام موضوع زبان مطرح نیست بلکه تنها و تنها مسلمانی است که مسلمانان را باهم برادر میسازد، مردم ولایات شمال کشور همه و همه خوب میدانند که این تحریک یک تحریک سوچه اسلامی است درین تحریک همه طالبان مؤمن جمع شده اند که اولاد اصیل این ملت هستند نه انگلیسها و نه کمونیستها است که ربانی آنها را به این نام و آن نام متهم میسازد. بر علاوه در ین تحریک موضوع زبان، سمت و قوم مطرح نیست واگر این موضوع مطرح میبود، پس برادران ولایت تخار درخطوط اول جنگ با ربانی نمی جنگیدند. مولوی عبدالعزیز گفتند: اگر موضوع زبان مطرح میبود پس مولوی عبدالباری که از نزدیکان ربانی بود و مولوی ضیاء الرحمن که دری زبان بود، آنها به کدام گناه و جرم کشته شدند؟ آیا آنها بطرفداری پشتونها برخاسته بودند یا اینکه شما رابه راه راست دعوت می نمود. مولوی صاحب در پایان سخنان خویش به نمایندگی مردم ولایت تخار اطمینان داد که تا آخرین رمق زندگی در تحریک اسلامی طالبان ایستاده خواهند بود.

د خوست د علماء د هیئت په نمایندگی ددغی تاریخی غونډی ته مولوی سید وسیم هم اوږده وینا وکړه او وی ویل: لکه چی محترمو علماؤ وفرمایل ټول مسلمان او مجاهد ملت دا غم درلوده چی د روسانو له ماتی او کمونیستانو له راپرځیدو وروسته به په هیواد کی اسلامی نظام جوړیږی. خو له بده مرغه د چوکی او قدرت جنگونو دا هرڅه په اوبو لاهو کړل. هر چا پخپل ځنگ کی کمونیستان وساتل او پر بل به یی دور لگاوه چی کمونیستان یی ترځنگ نیولی دی، خو ددوی ټولو به دا هم ویل چی که یو داسی بی طرفه قوت منځ ته راشی چی د اسلامی نظام د جوړولو تکل ولری نو موږ به خپل ټول امکانات ورسپارو، مگر اوس موږ وینو چی داسی یو قوت منځ ته راغلی دی، خو دوی بیا هم له خپل شخصی قدرت څخه نه تیریږی. او دغه اسلامی بی طرفه تحریک ته قدرت نه خوشی کوی. خو زه تاسو ته واو درکوم چی انشاء الله ډیر ژر به دغه اسلامی تحریک د اسلامی نظام په ټینگولو بریالی کیږی او وطن ته به له دغه بحران څخه نجات ورکوی، ده د خپلو خبرو په پای کی وویل: لکه څنگه چی د خوست مسلمانانو خلکو په لومړیو ورځو د طالبانو راتگ ته په ډیره مینه هرکلی ووایه زه تاسو ته واو درکوم چی د ژوند تروروستی سلگی پوری به له دغه اسلامی تحریک سره ملگری وی او په وطن کی به د ظلم او ناروا د پای ته رسولو تر ورځی پوری به ورسره ولاړ وی.

د کندهار په دی تاریخی غونډه کی د شینوار د عالمانو د هیئت یو تن غړی مولوی جلال الدین شینواری هم یوه عالمانه وینا وکړه او د خپلو خبرو په یوه برخه کی یی وویل: د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت د روسی یرغلگرو په مقابل کی سخت کړاوونه وگالل، خو د خدای(ج) په مرسته ئی پوازی روسان له ماتی سره مخامخ شول بلکی پخوانی شوروی اتحاد هم ورسره دړی وړی شو او اوس د نړیی پرمخ د شوروی اتحاد په نامه کوم هیواد نشته، همدا افغانان وو چی نیمایی نړیی یی د روسانو له واکمنی څخه آزاده کړه، په نړیوالی کی یی کمونیستی فساد ختم کړ. خو په تأسف سره باید ووایو چی ربانی د خو ورځو اقتدار لپاره یو ځل بیا غواړی چی د افغانانو گټلی نوم ترخاورو لاندی کړی او ځان یی بیا د همغو روسانو غلام گرځولی دی چی پرون موږ ورسره جهاد کاوه.

مولوی جلال الدین شینواری په ټولو علماؤ غږ وکړچی د طالبانو دغه اسلامی تحریک پیاوړی کړی څو که چیری خدای(ج) دی نه کوی دغه تحریک ناکامیږی بیا په افغانستان کی لا څه چی په ټوله نړی کی مسلمانان په جگو سترگو و نه گوری، نو راځئ چی په یو اتحاد دغه تحریک بریالی کړو او وراتگی یی د نړی گوټ گوټ ته ورسوو. ده زیاته کړه، ددی حالاتو په لیدلو سره طالبانو خپل مسئولیت وباله چی ددغه شان اعمالو مخه ونیسی، علماء کرامو ته یی مراجعه وکړه له هغوی نه یی فتوی وغوښتله او بیا مو د علماء د فتوی له مخی په عملی اقدام لاس پوری کړ او دا دی تاسو گوری چی څه ښه وضعیت په افغانستان (خلورم مخ)

(خلورم مخ)

د حضرت جليبيب «رض» تاريخ بيا تکرار شو

هغه پخواني مجاهد او اوسني طالب و، د جهاد په ځوارلس کلنه موده کې يې د روسانو او د هغوی د غلامانو په مقابل کې د خپلې ميرمنې په ګډون د کورنۍ ۳۵ تنه غړي په دې مقدسه لار کې قربان کړي وو، خو چې روسان مات شول او داخلي کمونستان را وپرزېدل نو له مجاهد ملت سره دا هيله وه چې په هېواد کې به اسلامي عدالت په رښا کې مسلمان او زړه سوانده زعامت منځ ته راځي او په کندواله بدل شوی هېواد به د بيا ودانۍ په لور خپل حرکت پيل کړي.

خو له بده شامته کله چې داخلي کمونستان را وپرزېدل نو د قدرت د نيولو او قدرت د ساتلو لپوټی وخړې پيل شوې او د وطن په زخمي زخمي بدن يې د نويو زخمونو د جوړولو لړۍ پيل کړه او د مسلمان ملت ټولې هيلې او اميدونه تر خاورو لاندې شول چې بيا د دغې بدبختۍ او نوی کړاو د له منځه وړلو لپاره يو ځل بيا د مسلمان ملت هلو ځلو ته ضرورت و او دا ځل د طالبانو د اسلامي تحريک په نامه يو ښمير په دين او وطن مين عناصر را پاڅېدل او غواړي چې وطن ته له دغې بدبختۍ څخه نجات ورکړي.

دادی نن بيا هغه پخواني مجاهد اولس د طالبانو د اسلامي غورځنګ د يوه تکړه سپاهي په توګه د مبارزې په لومړۍ کرښه کې پروت دی، دغه پخواني مجاهد او اوسني طالب ژمنه کړې ده چې د ربانۍ د تش په نامه اداري تر را پرځېدو پورې به د حق دغه ټيولی سنګر نه خوشې کوي، که څه هم دغه ورونو دده لپاره د نوی واده پند وست وکړ او دی يې په همدې غرض له سنګر څخه وغوښت خو چې ناوې يې له وولی څخه را کوزه کړای شوه دده په زړه کې د چهارآسياب په لومړيو کرښو کې وری تری طالبان وګرځېدل، خپلې ورېنداری ته يې وويل چې زما کالي راواخله، هغې چې د کاليو غوټه ورکړه نو مخامخ د چهارآسياب په لور وخوځېد او د اصحاب کرامو د وخت د حضرت جليبيب «رض» تاريخ يې يو ځل بيا ژوندی کړ او دادی اوس له خپلو هغو طالبانو ورونو سره د ځګړې په لومړۍ کرښه کې پروت دی چې د ربانۍ د تش په نامه اداري د [illegible] او دښمنانو د پای ته رسولو په مبارزې مبارزه بوخت دی.

مجاهد ملا محمد عمر اخند ...

د ظلم او ناروا له تيارو څخه ژغورل شوی او اسلامي عدالت پکې نافذ دی. بيا مو د علماؤ د فيصلې له مخې له هغو کسانو څخه وسلې ټولې کړې چې په ناوړه لاره کې يې ترې استفاده کوله، قوم پرستي، سمت پرستي او ژبني تعصبات مو له منځه يوړل. او نتيجه يې تاسو پخپلو سترګو ګورئ چې انشاء الله ډېر ژر به هغه خلک هم زمون د کرو وړو پلويان شي چې همدا نن زمون پر خلاف ولاړ دي. ده وويل: موږ په واګه وايو چې د طالبانو تحريک په افغانستان کې د تقوی، اخلاقو او اخلاص نمونه ده نو بايد د قدرت هم دغه شان يوه قوت ته وسپارل شي چې دغه صفتونه پکې موجود وي، ده د لويې جرګې او اهل حل و عقد شورې په اړه وويل چې لويه جرګه او د اهل حل و عقد شورې موځکه راونه غوښتله چې په دې اړه څه ناځه مشکلات موجود دي او انشاء الله زه تاسو ته ډاډ درکوم چې د هغې راغوښتلو وخت به هم راورسېږي. نو موږ پرېکړه وکړه چې بايد د علماء کرامو يوه شورې راوغواړو تر څو په دې اضطراري حالاتو کې موږ ته مشوره راکړي ځکه ملت هر وخت په دغه شان سختو شرايطو کې پر علماؤ اعتماد کړی او ددوی په خبره يې عمل کړی دی، ددوی فيصله د عوامو فيصله ده او تاسو پوهېږئ چې ملت شريعت او امن غواړي چې موږ هم د همدې غرض لپاره قيام کړی او په عمل کې مو ملت ته واوسوله چې شريعت او امن به راولو. خو دغه کار بيا هم د ملت او عوامو له مرستې پرته له امکان څخه وتلې خبره ده.

ده وويل: زه تاسو ته ډاډ درکوم چې له موږ سره د ملت ملاتړ موجود دی، موږ په اداري چارو کې له چټې رشوت نه اخلو.

خانه شان برده شده، جوانان به زور برده ميشود و به جنگ روان ميشوند، برعلاوه اينکه در آينده به مواد نشه معتاد ميشوند که در تمام عمر بار دوش خانواده گردد، همين علت است که همه مردم دعا ميکنند که طالبان موفقانه داخل منطقه گردد، يا آنهم ما افتخار داريم که اولاد ما و طالبان سمت شمال ما با تحريک اسلامي طالبان دوش به دوش در مقابل اداره، تام نهاد رباني ميجنگند و قرباني ميدهند.

دې تاريخي غونډې ته شيخ الحديث د تره خيلو مولوي صاحب د کابل د علماء کرامو د هيئت په نمايندګۍ پخپلو عالمانه خبرو کې وويل: په مذاکراتو باندې هيڅ شي کيدای، پرته له دې چې رباني قدرت پريږدي بله لاره نشته، طالبانو ددی امتحان ورکړ چې آرامي راوستلای شي، ما رباني او مسعود ته په دې اړه يو ليک هم ليږلی او په هغه کې مې ورته ليکلي دي چې بايد له اقتدار نه لاس واخلي، ملت دی نور نه بدناموي، ظلم دی نه کوي، بې ځايه وينې دې مه تويوي او په دې توګه دې د ملت کړاو پای ته ورسوي.

د مولوي تره خيل تر وينا وروسته د کندوز د عالمانو دهيئت په نمايندګۍ مولوي عبدالحي زعفراني پخپله عالمانه وينا کې وويل: طالبان در جهاد چهارده ساله هم طوری قرباني داده اند که مثال آن ديده نميشود، تنها شاګردان من به دوازده ولايت کشور در اوايل قدرت کمونيستها دعوت جهاد رسانيده اند و اين يک قرباني بزرګ است، در شرايط فعلي تنها و تنها تحريک طالبان است که راه حق را می پيمايد.

موږ بيت المال ته خيانت نه کوو، موږ د بيت المال پيسې په شخصي چارو نه لګوو په کندهار کې ۱٤۰۰ دولتي دوکانونه موجود دي خو موږ دا پول د بيت المال په ګټه استعمالوو، که څه هم موږ د جنګ مخالف يو او خپلې خلک هم وايي چې بايد طالبانو جنګ نه وای کړی، خو تاسو ووايئ چې پرته له جنګه څوک دی ته حاضرېږي چې قدرت پرېږدي، نو چې فساد له منځه وړل مطلب وي نو بيا که د جنګ له لارې وشي هم جواز لري ځکه اسلام په اوسنيو شرايطو کې جنګ پر موږ داسې فرض کړی دی لکه لمونځ او روژه او که چېرې طالبانو د جنګ له لارې دې کار ته اقدام نه وای کړی نو اوس به افغانستان د جهالت او ګمراهۍ په کنده کې غورځېدلی وای، همدا اوس تاسو ګورئ او اورئ چې رباني تر څلورو کلونو وروسته د طالبانو د تحريک له برکته غايشي قصاص يې پيل کړ.

ده وويل: رباني د مذاکراتو چيغې وهي خو که په مذاکراتو باندې د مسئلې حل امکان درلودای نو په تېرو څلورو کلونو کې څو ډېر مذاکرات وشول اوس خو بايد بېخي خبره خلاصه وای، مسئېري څو واري راغي او ولاړو خو د مسئلې د حل لپاره کومه فارموله نه لري، نو موږ به د مسئېري کومه خبره ومنو او پر څه باندې به ورسره وغږېږو، دده ورورستی لست چې هغه ژ چې پخپله رباني ورکړی ژ او زيات شمير هغه کسان پکې وو چې د رباني په تنظيم پورې يې اړه درلوده او زيات داسې کسان ژ چې مجرمين او د ملت په وينو يې لاسونه سره

...

- بهرني لاسوهنې په اړه وويل: بهرنيو لاس وهنو ته هم پخپله رباني لاره اواره کړی ده او غواړي چې د افغانستان په دين او وطن مين خلک يو ځل بيا د روس غلامان کړي.

د علماء کرامو په تاريخي غونډه کې د مزار شريف د علماء د هيئت په نمايندګۍ مولوي احمد مزاري اووده وينا وکړه او د خپلو خبرو په يوه برخه کې يې وويل: طالبان بايد يک حکومت اسلامي را تشکيل نمايند، زيرا ملت در قلب خود براي شان جا داده اند، من به نمايندګي مردم ولايات شمال کشور به تحريک اسلامي طالبان باور دارم و [illegible] طلبستان مندهم که در سمت شمال [illegible] مردم غريب در انتظار اوشان اند.

[illegible] اينها چنان ظلم شده که در تاريخ [illegible] [illegible]

ديګران محض براي چوکي و قدرت شخصي مبارزه ميکنند، حکمتيار صاحب ګاهی يکطرف و ګاهی طرف ديګر تب و تلاش ميکند که مطلب شان قدرت و چوکي است، همراي رباني چهار سال متواتر جنګيد، اما امروز بخاطر يک مشت پول کردار مليشه را اداء ميکند. فرق طالبان با تنظيم هاي ديګر اين است که آنها پوسته ها و پاتک ها را بخاطر چوروچپاول به وجود مي آورند و طالبان براي امن و استقرار مردم.

د هلمند د علماؤ د هيئت په نمايندګۍ مولوي محمد خواص دې تاريخي غونډې ته په وينا کې وويل: د طالبانو تحريک د حق تحريک دی ځکه د حضرت محمد(ص) د ارشاد له مخې دغه شان تحريک د حقانيت نښه ده.

غونډې ته د ننګرهار د هيئت يو بل عالم مولوي محمد الياس هم وينا وکړه او د خپلې وينا په يوه برخه کې يې وويل: د طالبانو تر لاس لاندې سيمو کې امنيت ټينګ دی، شريعت جاري دی او د خلکو سر او مال خوندي دی نو خدای(ج) دې وکړي چې ټول افغانستان ددغه تحريک له ګټو څخه برخمن شي. د کندهار د تاريخي غونډې په پنځمه ورځ د طالبانو د اسلامي تحريک مشر ملامحمد عمر اخند ته د افغانستان د امير المؤمنين لقب ورکړی شو او اعلان وشو چې رباني له روسانو سره د دوستۍ او شرعي ضد عملونو له امله عزل او پر ځای يې د طالبانو د اسلامي تحريک مشر مجاهد ملا محمد عمر د افغانستان دامير المؤمنين په توګه رټاکل شو.

د طالبانو عالي شورې غړي مولوي احسان الله «احسان» ددې فتوی د اعلان په وخت کې وويل: د افغانستان په تاريخ کې پخوا چېرې په دومره زيات شمير عالمان نه دي جمع شوي نو ددې لپاره چې پخواني فتوا تائيد شي نو تاسو ته وړاندې شوه، ورپسې د طالبانو د تحريک مشر ملا محمد عمر آخند د تحريک د شروع کېدو علتونه بيان کړل بيا د حاضرينو په مخکې ودرېد او تر يو نيم ساعت پورې يې د خلکو بيعت واخيست، د غونډې ګډونوالو برخه والو زړل او د الله اکبر نارې يې وهلې. د غونډې برخه والو ټولو هغو کسانو ته د عمومي بخښنې اعلان وکړ چې له مخالفت څخه لاس واخلي. د غونډې په پای کې يو پريکړه ليک هم صادر شو.

د طالبانو اسلامي تحريک په هېواد کې د اسلامي شريعت د راژوندي کولو يو مقدس پاڅون دی

د شريعت اونيزې خبريال له کندهار نه خبر راکوي چې د ۱۳۷۵ لمريز هجري کال د ورې په پنځمه نېټه د زابل ولايت د نظام ولسوالۍ حتی علمای کرام د هغې ولسوالۍ د ولسوال ملا عبدالباری اخوند په مشرۍ د طالبانو د اسلامي تحريک محترم مشر د ملاقات لپاره د هغه د امارت دفتر ته ورغلل، په سر کې ملا عبدالباری اخوند د ولسوالۍ د کارونو په اړوند، محترم مشر ته په تفصيل سره معلومات ورکړل، او د حالاتو له سمون څخه يې ډاډ ورکړ؛

وروسته بيا ورسره علماوو کرامو په خپل وار سره خبرې وکړې، د ښو هيلو حرګندونه او د هر ډول مرستې ژمنه وکړه؛ دوی زياته کړه چې د طالبانو د اسلامي تحريک په هېواد کې د اسلامي شريعت دبيا راژوندي کولو يو مقدس پاڅون دی.

په پای کې محترم مشر ددوی د ښيکو هيلو مننه وکړه او لازمې لارښوونې يې ورته وکړې.

د خوست د هوايي دګرمسؤل په کندهار کې

د شريعت اونيزې خبريال له کندهار نه خبر راکوي چې د ۱۳۵۷ لمريز هجري کال د ورې په (٦) نېټه د خوست دهوايي دګر مسؤل محترم عطاء الله درخواستی د کندهار له والي او عالي شورای رئيس ملا محمد حسن اخوند سره ملاقات وکړ، په دغه وخت کې د کندهار د هوايي دګر مسؤل هم موجود ؤ؛

محترم درخواستي د خوست د هوايي ډګر د نظامي اهميت او نورو ګټو په هکله هغوی ته په تفصيل سره معلومات ورکړل او د ميدان د ترميم کولو غوښتنه يې وکړه.

په مقابل کې ملامحمد حسن آخوند ده له نيک احساس او ښه نيت څخه مننه وکړه او د ميدان د ترميمولو منظوري يې ورکړه.

دکابل په جنوبي او جنوب لوېديځو سيمو بمباري

د شريعت اونيزې خبريال خبر راکوي چې د کابل د تش په نامه اداري يو غورځوونکو جټ الوتکو د کابل په جنوبي او جنوب لوېديځو سيمو باندې سخته بمباري وکړه.

خبريال زياتوي چې د کابل د تش په نامه اداري جنګي الوتکو د طالبانو اسلامي غورځنګ له لومړيو کرښو څخه په شا وتښتېدې، خو د تېرې ورځې او تېرې شپې بمباريو يو ځل بيا وښوده چې طالبانو خپل سنګرونه لا مظبوط کړي او د مقابل لوري د هر ډول حملې په شا تنبولو توان لري.

دکندهار له والي او دعالي شورا سرپرست ملامحمد حسن د شينکي ولسوال سره وکتل

د غزني له ولايت نه د (شريعت اونيزې) خبريال خبر راکوي چې تېره ورځ د کندهار والي او د طالبانو د عالي شورې سرپرست ملامحمدحسن اخند د غزني ولايت د شينکي ولسوالۍ له ولسوال مولوي محمدصديق سره وکتل.

خبريال زياتوي د شينکي ولسوال د شينکي ولسوالۍ د وضع په هکله د شورې سرپرست ته بشپړ ډاډ ورکړ او د کندهار والي په ځواب کښې ده، د ښه خدمت مننه وکړه او لازم هدايات يې ورکړل.

د قندهار د تاريخي غونډې پريکړه ...

د هېواد له هرګوټه او هرې پېخې نه ديني عالمان راغلي او د هېواد د نجات په اړه يې اوږده، ګټور او هراړخيز بحثونه وکړل، غونډه د ورې په ١٤ نېټه د چهارشنبې په ورځ پای ته ورسېده په پای کې يې يو پريکړه ليک خپور کړ چې عمده ټکي يې دا دي:

استاد رباني معزول او پر ځای يې د مجاهد ملا محمد عمر اخند د افغانستان د اميرالمؤمنين په توګه ټاکل، د رباني تر ليرې کيدو پوري د طالبانو رواني مبارزې ته دوام ورکول.

په افغانستان کې د يو آزاد، سوچه او اسلامي حکومت جوړول.

په افغانستان کې د بهرنيو لاس وهنې غندل او د هر ډول بهرنيو لاس وهنې بندول.

د افغانستان د حمکې د تماميت او استقلال په ټينګه دفاع کول او د هېواد د تجزيې مخه نيول.

د هېواد د ټولو اقليتونو د حقوقو ساتنه او دفاع کول. دخپلو سيمو د ديني عالمانو په ضمانت، د پښيمانۍ په صورت کې له طالبانو سره د بنديانو لپاره عمومي بخښنه اعلانول.

د ښاري کمپ ...

اسلامي غورځنګ په پرمختګ او ثمر ته رسولو کې به له هيڅ ډول مالي او ځاني مرستې نه ډډه نه کوي. علماو او قامي مشرانو د غونډې برخه والو ته په وينا کې وويل چې ‌اوس زمونږ خلکو حق او باطل پېژندلی او دا فيصله يې کړې ده چې د باطل په مقابل کې به د حق مرسته کوي او د حق د بريالېتوب لپاره به هيڅ ډول هلې ځلې نه سپموي.

په کندهار کې...

خبريال زياتوي چې دغه ځوارلس اتيابه مختلف ډوله درمل چې د کندهار په ښاريانو باندې د اصلي درملو په نوم پلورل کيدو ته وړاندې کيدل د عامو خلکو په وړاندې وسوځول شول.

د پېښور د بورډ ...

عامو مهاجرينو د ننګرهار د علمي شورې غړي مولوي عبدالسلام حقاني او مولوي عبدالرحمن احمد هوتکي په لاس د اميرالمؤمنين په توګه له ملامحمد عمر آخند سره بيعت وکړ.

د قندهار د تاريخي غونډې له پای ...

د ورې په ١٨ نېټه د هېواد علماء کرامو له امير المؤمنين ملا محمد عمر اخند او د هغه له مرستيال ملامحمد رباني سره د خدای پاماني لپاره کاته وکړل د مخه يې په دې کته کې د کندهار والي او دعالي شورې سرپرست محترم ملا محمد حسن اخند او د عالي شورې غړي مولوي احسان الله احسان علماؤ کرامو ته خطاب کې وويل: محترمو علماء کرامو، پياوړو استاذانو او مشرانو! دا چې تاسو تکليف وګاله او د هېواد له لېرو لېرو سيمو څخه مو دلته تشريف راوړی او بيا مو موږ ته په دې تاريخي غونډه کې ګډون او ګټورې مشورې راکړې د لوی او مهربان خدای له دربار څخه تاسو ته د زيات اجر او ثواب غوښتنه کوو.

دوی د خپلو وينا ژ په جريان کې وويل: دا چې موږ ستاسو بچيان او اولاد يو نو بچيان پخپل پلار دا حق لري چې د خپل اولاد نيکه پالنه او ښه روزنه وکړي او تاسو چې موږ ته د خپلو نيکو اسلامي احساساتو ترڅنګ سمې لارښوونې وکړې او د ظلمت له تيارو څخه مو د افغانستان د مظلوم ملت د نجات او خلاصون په اړه ګټورې معلومات راکړې تاسو ته ډاډ درکوو چې د لوی خدای په مرسته به ستاسو د مشورو او لارښوونو په رڼا کې عمل کوو او دغه ستاسو لارښوونې به د خپلې ټک لارې مشال وګرځوو، خو له تاسو محترمو علماء کرامو څخه زمونږ هيله دا ده چې د خپلو سيمو خلک ته په لومړي زمون سلامونه او نيکې هيلې او ورسوئ او بيا به د هغو سيمو حالات ورته تشريح کړئ چې د طالبانو د اسلامي غورځنګ ترکنټرول لاندې دي. او ددې ترڅنګ زمونږ هغه پېشنهادونه کټ مټ مسلمان ملت ته ورسوئ چې تاسو او ټول مسلمان ملت ته يې لرو. په پای کې يو ځل بيا له تاسو محترم علماؤ او خپل ټول مسلمان ملت څخه زمون هيله دا ده چې ددغه اسلامي تحريک د بريالېتوب لپاره خپلې هلې ځلې هماهنګې او منسجم کړي.

د ګربزو ولسوالۍ ...

له خوست څخه خبر راکوي چې دسيمې د اوسېدونکو د ورځنيو ستونزو او قضاياؤ د حل او فصل په غرض د خوست مسؤلو مقاماتو د ورې په ١٦ نېټه دغه ولسوالۍ چې پخوانی تشکيل کی علاقداري وه فعاله او ماموريتو يې په کار پيل وکړ. اوس د ولسوالۍ اوسېدونکي خپل ورځني مسايل پخپله ولسوالۍ کی حل کوي او خوست ته د تللو ضرورت ډېر کم پېښيږي.

د کندهار د يو سل ...

په دې مراسمو کې له بهرنيو مؤسساتو سره د اړيکو مرستيال محترم شيرمحمد عباسي او د عامې روغتيا رئيس ډاکټر بلوچ هم ګډون کړی و، د تداوی په دې ځانګه کې به د فلج د ناروغانو تداوي کيږي او د معيوبينو او معلولينو لپاره به د مصنوعي پښو او لاسونو د جوړولو چارې سرته رسيږي. د پرانستلو په مراسمو کې د کندهار مسئولينو د هندوکش د مؤسسې دغه بشري اقدام وستايه او د هغوی د هلوځلو مننه يې وکړه.

د هلمند ولايت ...

خبريال زياتوي چې د واکسين دغه دايي مرکز په وکړای شي د ولايت ټولو مربوطو سيمو ته د ضرورت وړ واکسين ولېږي او د خلکو احتياجات پوره کړي.

همدارنګه د هغه ولايت د ناوې په ولسوالۍ کې هم د يو لړ خاصو مراسمو په ترڅ کې د واکسين يو مرکز پرانستل شو.

خبريال زياتوي چې د مرکز د پرانستلو په مراسمو کی د هغې ولسوالۍ پر اوسېدونکو سربېره د هلمند د عامې روغتيا رئيس محترم ملا محمد غريب آخند هم برخه اخيستې وه او دغه مرکز يې د سيمې د خلکو په روغتيايي ژوند کې يو ګټور اقدام وباله.

د لوګر ولايت ...

خبريال زياتوي چې غونډه د عظيم الشان قرآن د څو مبارکو آيتونو په تلاوت پيل شوه، ورپسې د لوګر والي ملا محمد کبير حاضرينو ته په خطاب کې د هېواد د روانو حالاتو، د طالبانو د اسلامي تحريک او د وطن د مسايلو په اړه ګټورې خبرې وکړې او خلک يې خپلو وجايبو ته متوجه کړل. د کندهار په تاريخي غونډه کې يې د اميرالمؤمنين په توګه د مجاهد ملا محمد عمر اخند د ټاکلو په اړه د وخت ضرورت تشريح کړ چې د حاضرينو له تودو ولولو سره بدرګه شو.

خبريال زياتوي چې د غونډې په پای کې د هغه ولايت له خلکو څخه د مجاهد ملا محمدعمر لپاره بيعت وغوښتل شو او د غونډې برخه والو په ژوندیو احساساتو او د الله اکبر د ملکوتي نارو په زور کې خپل بيعت ځرګند کړ او يو بل ته يې مبارکي وويله.

د حکمتيار او شورای نظار ...

ورپسې د هغه ولايت د اطلاعاتو او کلتور مسئول عتيق الله د غونډې د جوړېدلو په مقصد رڼا واچوله او وې ويل چې: د افغانستان ټول مسلمان ملت بيا په تېره د کابل او د هغه د خواوشا سيمو خلک د حکمتيار او رباني له نږدې کېدلو څخه د نورو اوردو جنګونو په تشويش کې دي، دوی داسې فکر کوي چې دغه خلک نه د خدای د پاره او نه ددغه مسلمان او باتور ملت د غوښتنو د پاره او نه د مقدس جهاد د اهدافو د تحقق لپاره او نه دلکونو شهيدانو د ارمانونو تر سره کولو لپاره اتحاد او ائتلاف کوي بلکې د خپلو پټو غرضونو، د چوکۍ نيولو او نورو مادي غرضونو لپاره د بې ګناه وطنوالو په وينو باندې ککړ لاسونه سره ورکوي ترڅو دوی خپل شوم هدف ته ورسېږي، که په دغه لاره کې نوری هر څومره وينې وبهيدلې ددوی يې پروا نه ساتي...

ورپسې د غونډې برخوالو علماوو وار په وار خپلې وېناوې واورولې او خلکو ته يې وويل چې په الله تعالی باندې اعتماد او توکل ولري، خپل نيتونه پاک ساتي او د طالبانو د اسلامي تحريک د مجاهدينو په ليکو کې په صاف نيت ځانونه تنظيم کړي.

په پای کې د علماوو کرامو يوه تن د تسلی ورکولو په ترڅ کې وويل: چې که د الله تعالی د مخلصو بندګانو په صف کې پاتې شئ نو الله تعالی به مو وساتي او چې الله تعالی مو مل وي د هيچا پروا مه کوئ.

په پای کې د افغانستان د اوسني کړکېچ د پای ته رسېدلو او د اسلامي حکومت او اسلامي نظام د قايمولو په دعا غونډه پای ته ورسيده.

* * *

د کابل اداري نظامي مرکزونه ...

برخه درلوده او د حزب وحدت له خوا په نورو غړيو سربېره شاغلي سيدهادي ګډون کړی ؤ. په دې کتنه کې موږ په څو ټکو باندې موافقه وکړه او هغه دا چې د مزاري د حادثې د پلټنې په اړه به يو کميسون ټاکل کېږي، هغه لاري به خلاصېږي چې د اهل تشيع او طالبانو تر منځ تللی راتللی دی چه تر اوسه پورې بندې دي. او په باميانو کې به د رباني د اداري د مرکزونو د له منځه وړلو لپاره ګډه همکاري پيل او په راتلونکي وخت کې به د تفاهم او مذاکراتو دروازې پرانستې وي.

دا چې دا تړون د دواړو اړخونو د رهبرۍ د شورې له خوا تر سره شوی او که سيمه ييزه بڼه لري مولوي وکيل احمد وويل: دا موضوع د دواړو خواو د رهبرۍ په سطحه لاسليک شوی او پرې فيصله شوې ده.

مولوي وکيل احمد د بي بي سي ددې پوښتنې په ځواب کې چې دغه تړون به په راتلونکي وخت کې يوه نظامي تړون ته هم لاره اواره کړي او که څنګه! وويل: هو د افغانستان ټول وګړي دا اراده لري چې افغانستان يو موټی او متحد وي او بيا د همدغه اتحاد او يووالي په رڼا کې افغانستان جوړ کړي. په افغانستان کې هر سياسي او نظامي قدرت بايد په دې لاره کې خپله همکاري وښيي نو حزب وحدت هم د همدغه اصل له مخې موږ له لاس راوغزاوه او دوی هم دا اراده لري چې په کابل کې اوسنۍ اداره چې دملت په ګټه نه ده بايد را وپرزول شي.

د بي بي سي ددې پوښتنې په ځواب کې چه د حکومت پرضد به په ګډه جنګېږئ؟

مولوي وکيل احمد وويل: هوا په دې خبرو کې يو ټکی دا هم و چې د رباني د اداري پر خلاف به ګډ نظامي فعاليت کوو، په باميانو، کاپيسا او ځينو نورو ولايتونو کې چې ددې

اداري کوم مرکزونه موجود دي د طالبانو او حزب وحدت د ګډو نظامي عملياتو په نتيجه کې به له منځه وړل کېږي.

د بي بي سي نماينده د پوښتل: تاسو پوهېږئ چې حزب وحدت د هماهنګۍ د شورې غړيتوب لري نو آيا د هماهنګۍ د شورې له نورو غړيو لکه په شمال کې له جنبش ملي سره ستاسو اړيکې شته او که څنګه مولوي وکيل احمد وويل: موږ چې له کريم خليلي سره تماس نيولی هغوی دا ويلي دي چې موږ پخپل کار کې بالکل آزاد او د خپل اختيار خاوندان يو او کولای شو چې په مستقله توګه عمل وکړو، نو موږ اوس يوازې د کريم خليلي په مشرۍ د حزب وحدت سره دغه تړون لاسليک کړی دی.

همدا رنګه په ميدان ښار کې د طالبانو له هيئت سره د حزب وحدت د هيئت مشر ښاغلي سيدهادي هم دا خبره تائيد کړه چې له طالبانو سره په يو لړ مسايلو باندې موافقه شوې او روغې جوړې ته رسيدلي يو.

ښاغلي سيدهادي وويل: موږ غوښتل له طالبانو سره خپل مشکل د خبرو له لارې حل کړو، ځکه نو خبرې دوام لري او دغه کار موږ د حزب د مرکزيت په هدايت کړی دی. بالاخره موږ فيصله وکړه چې يو ګډ کميسون دې وټاکل شي او بيا دې دغه کميسون د استاد مزاري د پېښې جريان وڅېړي او د هغه د پېښې عامل دې معلوم کړي.

د ګډون بيه	شپږمياشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خليج هېوادونه	SR. 150	SR. 300
اروپا او امريکا	$: 75	$: 150

د پکتيا ديندارو خلکو ...

د کندهار د تاريخي غونډې د اهميت او ضرورت په اړه اوږدې او هر اړخيزې خبرې وکړې، هغه پريکړې يې خلکو ته تشريح کړې چې د کندهار په تاريخي غونډه کې د هېواد د علماؤ کرامو له خوا تصويب شوې دي. خبريال زياتوي چې ددې له ويناؤ وروسته د پکتيا دقومونو يو شمير علماؤ او مشرانو هر يو ښاغلي محمد بهرام ځاځي، حاجي حليم ګرديزي ښاغلي مرازک منګل، مولوي فتح خان ځدران، مولوي دُر محمد خاځی او مدير محمد طاهر احمد زی پخپل وار سره د خپلو اړونده قامونو په نمايندګۍ د کندهار د تاريخي غونډې له فيصلو او پريکړو سره خپل غوڅ ملاتړ ځرګند کړ او په خپلو وينا ژ کې يې د اميرالمؤمنين په توګه د مجاهد ملا محمد عمر آخند د ټاکل کېدو، نه امله پهولو هېواد، ته مبارکي ووېله، د لوی خدای(ج) په دربار کې يې دوعا وکړه چې د اميرالمؤمنين تر اسلامي او مدبرانه قيادت لاندې زمون اسلامي هېواد له موجوده بحران څخه نجات ومومي.

خبريال زياتوي چې د پکتيا قامونو په يوه خوله مجاهد ملامحمد عمر آخند ته د اميرالمؤمنين په توګه بيعت ورکړ او رباني يې د جمهور رئيس په توګه له خپلې وظيفې څخه معزول وباله، غونډه د الله اکبر په ملکوتي نارو او د وطن د ارامۍ او سوکالۍ په غوښتلو پای ته ورسيده.

اعتذار

په تيره ګڼه کې د معاصر افغانستان په مضون کی د نور بيا په ځای «محمد علم فيض زاد د خپل کتاب(جرګه های ملي بزرګ) ولولی.

يادونه

ښايي ستاسو ايمان په اجازه ورنکړي چې دا ډول سپېڅلې پاڼې په ناوړو ځايونو کښې وغورځوی.

(اداره)

SHARIAT WEEKLY
Publisher : Islamic Movment of Taliban of Afghanistan.
Editor -in- Chief : Movlavi Ahmad Jan.
Tel : 840378
PAK - RUPE A/C. CD. No. 1694 -69.
Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch (Code 0267)
Peshawar, Pakistan